HAZOB
info@hazob.de

# هڅوب ۲

مهالنی
ټولنیزه او فرهنګي مجله



کلتور او دودونه د انساني طبیعت نه بېلېدونکې برخه ده او تل د انسان ملګري پاته کېږي. په جرمني کې ډېر افغانان له خپلو اصلي دودونو او ځانګړو عنعنو لرې پاته شوي دي او له دې تشې ځورېږي. له همدې کبله هڅوب هوډ لري، ترڅو تر یوې کچې دا تشه ډکه کړي او داسې فرصتونه برابر کړي، چې په مرسته یې جرمنيمېشتي افغانان د خپلو دودونو ساتنه او پالنه وکړي او دلته یې د خپلو اصیلو او پر ځای ارزښتونو په توګه نړۍ ته ور وپېژني.

HAZOB

مهالنۍ

# هڅوب

۲۰۲۳ کال،
دوهمه گڼه

ټولنیزه او فرهنګي مــجله

نېټه: جولای ۲۰۲۳


مؤسس او د امتیاز څښتن: هڅوب

مسوول مدیر: محمود سعید

مرستیال: مجیب الرحمن احساس

متن ایډیټور: قریب الرحمن شهاب

کمپوز او ډیزاین: هېوادمل ګرافیکس

عکاس: محمد عمران

برېښنالیک: info@hazob.de

پته : جرمني، برلین


هڅوب په ټولنیزو رسنیو کې :

SCAN ME

www.hazob.de

بیه: ۵ یورو

# په دې ګڼه کې:


| | |
|---|---|
| هڅوب؛ د وطن تپاند زړه... | ۴ |
| تر یَخ لاندې څه دي؟ | ۵ |
| د افغانستان او آلمان اړیکو ته ځغلند نظر | ۹ |
| جرمني ته د نویو راغلو افغانانو ستونزې | ۱۲ |
| د کیسې په پیڅکه غوټه سل کیسې دي: د استاد غضنفر د ... | ۱۳ |
| په جلاوطنۍ کې د افغان خبریالانو ننګونې | ۱۸ |
| له کومه ځایه یې راپیل کړم!!! | ۲۲ |
| زه جرمني ته نوی راغلی یم، حیران یم چې څه وکړم؟ | ۲۴ |
| د موټر چلولو لایسنس | ۲۷ |
| د تابعیت ازموینه | ۳۳ |

# هځوب؛
## د وطن تپاند زړه...

دا دي هځوب له هيلو، تلوسو او اندېښنو په ډک زړه يوبل بل ګام هم واخېست. هيلې له وطن لرې د افغاني کلتور، هنر او پښتو ژبې د خونديتابه او بډاينې لپاره؛ تلوسې په کډوالۍ کې خپلو هيوادوالو ته د لا ښه چوپړ د وړاندې کولو او اندېښنې د دې لوی مسووليت پر وړاندې د ځينو د بې‌تفاوتۍ لپاره.
موږ د دې کار لپاره لاهم هيڅ ډول مالي ملاتړی نه لرو او باور مو دا دی چې، د خپل وطن او هيواد والو لپاره کار کول تر هرڅه لوړ دي، خو پرهغو هيوادوالو مو زړه هم سوځي چې، د خپل راتلونکي نسل، هيواد او خلکو پر وړاندې دا لوی مسووليت نه درک کوي.
په دې نا آشنا چاپيريال کې د پښتو ژبې، ملي عنعناتو او تاريخي وياړونو د ژوندي ساتلو لپاره به زموږ منډې تړړې هغه وخت لا زيات رنګ راوړي، چې تاسې هم راسره لاس يو کړئ او دلته د هر افغان کور ته د دې روښانه ډيوې په رسولو کې راسره مرسته وکړئ.
ښايي د ډيرو لپاره دغه راز هڅې بابيزه ښکاره شي، خو موږ او تاسې د خپل راتلونکي نسل پر وړاندې لوی رسالت او مسووليت لرو او بايد هغوی ته ټول هغه څه ورسوو چې يو افغان ماشوم او له وطنه لرې وطنوال ورته اړتيا لري.
د هځوب لومړنۍ ګڼه مو ښايي ترلاسه کړې وي او له شک پرته چې له کميو او ځينو تيروتنو خالي نه وه، ښايي لامل يې هم دلته په جرمني کې د پښتو ژبې متن له چاپ سره د مطبعې نابلدي او ځيني نورې تخنيکي ستونزې وي، خو زموږ ټوله هڅه به دا وي چې ګام پرګام دغه ستونزې حل کړو.
موږ هڅه کوو چې هځوب د پيغام رسونې پر يوه داسې وسيله بدل کړو چې نه يوازې د هيوادنۍ او ملي روحيې په لا پياوړې کېدو کې به مرسته کوي، بلکې د کډوالۍ په برخه کې به د مشورې او لارښوونو يو باوري ادرس وي.
دغه راز هځوب هڅه کوي په هره ګڼه کې د لوستونکو لپاره متفاوت او د هغوی د خوښې وړ مطالب چمتو او وړاندې کړي، خو دا سلسله هغه وخت لا پياوړې او ګړندۍ کېدای شي چې ګران لوستونکي هځوب مجله وپيري، ولولي، له نورو سره شريکه او تر ډېرو کسانو يې ورسوي.
يوځل بيا يادونه کوو چې هځوب يو خپلواک او ناپيیلی ادرس دی او د وطن، خپلو خلکو او ژبې سره له احساس پرته نور هيڅ ډول تړاو نه لري او د دې ادرس دپايښت او دوام لپاره موږ ستاسې پر ملاتړ حساب کوو او هيله لرو چې ملتيا مو وکړئ.
هځوب د يوه پراخ چتر په حيث ګڼ نور پلانونه ترلاس لاندې لري او که خدای کول ډير ژر به په دې اړه خبر شئ.

اداره

نعیمه غني



# تر یَخ لاندې څه دي؟

سوړ باد، سیلۍ او ورسره زما چټک تګ لاره راته تر ډېره اوږده کړې وه، که څه هم قدمونه مې سپک وو، خو زه خولې وم او ښایي د دې لپاره چې ډېره بیړه مې کوله او وارخطا وم.

سوې غاړه او ستړې روانه وم، تر لېرې لېرې مې هیڅوک نه تر سترګو کېدل او د خدای په دې یخې دښته کې یوازې وم، یخ دومره پنډ وو لکه پر مځکه چې روانه وم.

ښه ډېر مزل مې کړی و، ورو ورو مې قدمونه په درنیدو شول، نور مې په زړه کې وېره هم را پیدا کېده؛ ولې به نه وه، زه په یخ شوې مځکه دومره مخکې راغلې وم چې نه مې د شاته تګ اسانه و او نه هم په مخکې تګ ځان راته ډاډه ښکاریده. تر پښو لاندې سیمه مې ورو ورو نامطمینه کیده او هره شیبه مې فکر کاوه چې ښایي وغورځېږم. په ډار او وهم کې مخته تلم، قدمونه مې لا نور هم درندیدل او په مخکې تګ سره مې داسې انګېرله چې څوک مې شاته راکاږي، ستونی مې له وېرې وچ او تندی مې لا پسې خولې کیده. په همدې وخت کې، یو، دوه، دری او یو دم مې تر پښو لاندې یخ مات شو او زه په لویه یخې کنده کې ننوتم،ګنګې او تر سر اوښتې اوبه او زه په کې هره خوا لاسونه وهم... له دې سره یو ناڅاپه راکیناستم، شاواخوا مې کتل او ستمېدم، هر څه تیاره وو، پوه شوم چې خوب مې لیدلی، دا د یو چا د یوه نارامه خوب تجربه وه.

ښایي تاسو به هم ډېر کله نارامه خوبونه وینئ، په یخ روانېدل، وېره اضطراب او بیا یو ناڅاپه ډوبیدل او وارخطا راپاڅېدل، مهاجرت دقیق همدې ته ورته تجربه ده، دلته هر څه نوي دي او د یخ پر سر د مزل تجربې ته ورته دي.



زما خپله هغه ورځ راپه زړه کوي:

د راتګ څخه به مو یوه که یوه نیمه میاشت تېره وه، د یوه ضروري کار لپاره یې، یوې لیرې اداري ته ولېږلم، له مزل او ادرس موندلو وروسته د ننه ورغلم، ناستې میرمنې ته مې سلام ورکړ او روغبړ مې ورسره وکړ، د هغې راته پام نه و په خپل کمپیوټر کې مصروفه وه، د سر په اشاره او هلو مې یې هرکلی وکړ، بیا یې په جرمني ژبه وپوښتېدلم: څه مرسته کولای شم؟ زه یې په ژبه نه پوهېدم خو د خبرو له انداره مې یې حدس ولګاوه چې همداسې یو څه به راته وايي، په ګوډه ماته انګلیسي مې خبره ورته وکړه چې څه غواړم.

-انګلیسي نه دوچ لطفا!(په الماني ژبه خبرې وکړئ لطفاً!)

-هو، بلې، زه دلته نوې راغلې یم او په الماني ژبه نه پوهېږم.

-ښه نو اوس ولاړه شه، بل ځل داسې کس درسره راوله چې په الماني ژبه خبرې وکړی شي.

دا یې وویل او د ننه خونې ته ننوته. دا راته یوه داسې تجربه وه لکه په یوه ډېره مهمه کاري مصاحبه کې چې ناکامه شوې وم، ناهیلې او ناباوره کورته راستنه شوم او ټوله لار مې په دې فکر کاوه چې هر څه به راته ډېر سخت وي.

خو لکه هر ډارونکی خوب چې وروستی خوب نه وي نو زما تجربه هم وروستی نه وه.

مهاجرت یا بل ملک ته په کډه تلل په لومړیو کې ډېر سخت نه وي،ستا سره د خپل پاتې وطن، کورنۍ او دوستانو غم وي او نوې ټولنه او وګړي یې درته ساده او اسانه معلومیږي، ګمان کوې چې که له سیستم سره بلد شې ښایي ډېره به خواره/ خوار نشې، همداسې هم ده، د اداري کارونو لپاره د مهاجرت اداره او د سوسیال اداري کارکونکي درسره مرسته کوي، ډاکتر ته دې معرفي کوي، د کور او سر پناه غم دې هم دوی خوري، د ماشومان د ښوونځي مرسته درسره کوي، کله کله چې جدي ستونزه ولرې نو درته ژباړونکی هم ګماري.

په مارکیټونو کې په هر څه بیه لیکل شوې، د ترانسپورت لپاره بیلابیلو اپونه شته او د ګوګل نقشه دې لاس نیولی ټاکلي ادرس ته وروليي، دا هر څه درته ژوند اسانه کوي او له نېکه مرغه له ډېرو ستونزو سره به نه مخ کېږې.

خو دا یې پیل دی او له دې وروسته اصل مزل په مخکې لرو. کله چې څوک وغواړي د مهاجرت په ټولنه کې په پښو ودرېږي نو پام به یې شي چې هر څه دومره اسانه هم نه دي. رښتیا خبره خو دا ده چې موږ له دې وروسته چې ځای پر ځای شو نو نوې نوي مو په ټولنه کې خپل ځای ته پام کېږي او همدارنګه د دې ټولنې ژوروالی راته معلومیږي. هغه وخت دی چې یو دم ګمان کوو چې یخ مات شوی او زه د یخ لاندې په له سره اړولو اوبو ورګډه/ ګډ یم.

بیله ژبه، د خلکو تر منځ پیچلې اړیکې، نابلده کلتور، ناستې ولاړې، د ماشومانو روزنه، ټولنیز مجلسونه، کله کله هم تبعیضي چلند او هغه ګڼ څه چې زموږ له ټولنې سره یې لوی توپیر دی او دا توپیر موږ ته په اول کې ډېر کم یا هم نه تر سترګو کېږي.

کله کله بیا د نوي چاپیریال
او ژوند ناخوالې مو





دومره پسې واخلي او موږ دومره چټکه هڅه کوو تر څو ژر په نوې ټولنه کې ځان عادت کړو چې یو وخت ګورو له خپلې کورنۍ، ټولنې، کلتور، ماشومانو او دوستانو سره مو اړیکه ډېره سړه شوې او نور هغه زه چې زه ورته ژمن یا ژمنه وم، نه دی/ ده پاتې. دا د ژوند تر ټولو ترخه تجربه ده او په ګټه کې په لوی تاوان اوښتی شو، مطلب موږ ډېر څه ګټلي وي خو اصل جوهر مو بایللی وي.

د دې لپاره چې دا چاره مو یو د بل په مشوره اسانه کړې وي نو د دې ټولو لپاره موږ یو منظم پلان ته اړتیا لرو ،چې څه وکړو او څنګه یې وکړو، څنګه په دې لوی دریاب کرار کرار داسې ورګډ شو چې د ډوبېدو پر ځای یې له تل څخه مرغلرې ترلاسه کړو.

## لومړی خبره: زه څوک یم او څه غواړم؟

لومړی تر هر څه باید په دې فکر وکړو چې زه څوک یم؟ د څه لپاره راغلی / راغلې یم؟ هدف مې څه دی او له نن څخه یو، دری، پینځه، لس ... کاله وروسته باید کوم ځای ته ورسېږم.

که څه هم موږ افغانان د هدف لرل او له دې کتابي چلند سره چندان عادت نه یو او راته بې خونده ښکاري، خو همدا چې په ساده ژبه یې ووایو چې لومړی څه راته اړین دي او څه باید وکړم دا په خپله هدف ټاکل دي.

د بېلګې په ډول لومړی باید څه وکړم؟ په څومره وخت کې باید ژبه زده کړم، څنګه ځانته کار پیدا کړم، څنګه له خپلې کورنۍ سره مرسته وکړم، ماشومان باید څنګه و روزم، څنګه اړیکې جوړې کړم او داسې نور مهم اهداف.

## دوهمه خو تر ټولو مهمه خبره دا چې زه څنګه زه پاتې شم !!

څنګه کولای شو چې له نوې ټولنې سره ځان داسې عادت کړو چې نه مو ځان په کې ورک کړی وي او  هم مو د دې ټولنې له ښېګڼو ګټه اخیستې وي؛په عامه اصطلاح زه څنګه زه پاتې شم.

د دې لپاره یو تر ټولو اغېزمن څواب دا کیدای شي، چې دلته له خپلو شته وطنوالو او دوستانو سره اړیکې ولرو او یوه پراخه او اغېزمنه ټولنه رامنځته کړو تر څو له موږ سره د خپل هویت، فرهنګ، ژبې او نورو اساسي شتو په ساتولو کې مرسته وکړي.

موږ افغانان چې کلونو کلونو جګړو مو ټولنیزې اړیکې او چال چلند د ژوند د نورو برخو په څېر اغېزمن کړی، هر کله چې داسې مهاجرت یا هم له نورو څخه لېرې محیط کې ځان ومومو نو هڅه مو دا وي چې ځان نور هم ګوښه کړو او له خپلو وطنوالو څخه لېرې والی راته غوره ښکاري، چې ښایي په بیلابیلو دلایلو ځانته د دې حق هم ورکړو ،خو اصل خبره دا ده چې همدا خپل هیوادوال او خپلې ټولنې مو دي چې له موږ سره مرسته کوي چې خپلې ژبې، کلتور، ناخوالو او لومړیتوبونو ته د مهاجرت په لمن کې په ښه توګه ورسېږو او په عامه اصطلاح موږ ،موږ پاتې شو او د هویت له فقر سره مخ نشو.

## دریېیم: ژبه مهمه ده که کار؟

دا به ښایي راسره ونه منئ چې د ژبې زده کړه تر کار کولو ډېره یا هم د کار کولو په اندازه مهمه ده،که د مهاجرت په لومړیو وختونو کې یاست نو کوښښ وکړئ، چې ژبې ته له هر څه لومړیتوب ورکړئ، ځکه چې که مو یو ځل پرته د ژبې له زده کړې څه ناڅه اړیکې جوړې کړې او کار مو ومند بیا به درته د ژبې زده کړه له پخوا دری برابره سخته شي دا ځکه چې په لومړیو



کې مو د ژوند (باید) و خو وروسته به په یوه داسې (اړتیا) اوړي چې تاسو یې پرته له شتون څخه هم خپل ژوند پر مخ بیولی شئ، مګر دا چې په راتلونکي کې بیا تاسو د همدې کمبودۍ له وجهې خومره چانسونه له لاسه ورکوئ هغه یوازې په راتلونکي کې درک کولای شئ چې بیا به مو ډېر څه په وس پوره نه وي.

## څلورم: کار او مسلک ولې اړین دی؟

ډېر کسان له دې شکایت کوي چې په اروپا کې د کار او بې کارۍ ګټه تقریبا سره ورته ده څکه چې معاشونه دومره لوړ نه دي او د سوسیال له پیسو سره یې چندان توپیر نه کېږي. زه په مالي ګټو څه نه لیکم خو دومره ویلی شم، چې وزګارتیا په خپله د انسان ارزښت راټیټوي او له ژوند څخه مو اصلي معنا اخلي. دوهمه خبره دا چې، د یوې سالمې کورنۍ د روزنې لپاره یوې سالمې بیلګې ته اړتیا ده.

تاسو د یوې خواریکښ مور/پلار په توګه خپلو ماشومانو ته ورزده کوئ چې څنګه خپل راتلونکی جوړ کړي او په خپل راتلونکي کې څه واوسي. له کار سره سره د یوه نوي مهارت یا مسلک زده کړه هم زموږ په پرمختګ او د ژوند په ښه کېدو کې مرسته کولای شي.

## پنځم: زما ماشومان به پردي رالوی شي!!

افغان که د مهاجرت په ټولنه کې له یوه شي ډېر ډار لري نو هغه دا دي چې ماشومان یې په پردي کلتور او ژبه رالوی شي او خپل هغه ته شا کړي.

مخکې مو وویل چې یوه افغاني د دوستانو حلقه تر هر څه د مخه مهمه ده، دا حلقه به په خودکار ډول ستاسو ماشومانو ته داسې چاپیریال برابر کړي، چې خپلې ژبې او کلتور ته ژمن پاتې شي او په خپلو کورنیو اړیکو کې دې د افغاني ټولنې په څېر چال چلند وکړي. له خپلو خپلوانو او وطنوالو سره راشه درشه به له هغو میندو او پلرونو سره چې کم سواد او یا هم بې سواده دي هم مرسته وکړي چې د ماشوم روزنې لارې چارې یو له بل څخه زده کړي او ماشومان به مو هم د یوه ایډیال شخص لپاره په خپل شاوخوا کې ډېرې بیلګې ولري.

## شپږم: نوې ټولنه نوې اړیکې غواړي

د نویو اړیکو جوړول او په نوي فرهنګ پوهیدل د نوي پیل لپاره ډېر اړین دي. که غواړې چې په یو ملک کې پرمختګ وکړې نو ښه به دا وي چې د هغه ملک په ګهیځ او بیګاه ځان خبر کړې، مطلب چې ټولنه او خلک یې وپیژنې. موږ ګمان کوو چې نوې ټولنه او خلک یې ژوند ته په بل ډول ګوري او ښایي که ورسره مل شو نو خپل اهداف به رانه ورک شي یا ښایي هغوی زموږ لومړیتوبونه او محدودیتونه درک نشي کړای، مګر داسې نه ده، که د مهاجرت په ټولنه کې له یو نوي کس سره اړیکې  او راشه درشه کوئ او په لومړي سر کې خپلې سرې کرښې ورته واضح کړئ نو ډاډه اوسئ چې هغوی به هیڅ کله هم له هغو تېر نه شي، خو بل پلو له هغوی سره پېژندګولي به مو په ټولنه کې د ورګډېدو، کار موندلو، ژبې زده کولو او دې ته ورته چارو کې ډېره مرسته وکړي.

## په پای کې به دا ووایم:

مهاجرت په خپله خوښه سفر نه دی او مهاجر انسان د یو لړ مجبوریتونو له امله خپل کلی او وطن پرېږدي او نورو ملکونو او مېنو ته مخه کوي، خو باتدبیره انسانان همدا چاره داسې په ښه توګه سمبالوي چې خیر یې خپل ځان، خپلې ټولنې او نورو شاوخوا خلکو ته رسیږي او د یو پیاوړي مثال په توګه د نورو لپاره لارې او کرښې روښانوي.





# د افغانستان او آلـــــمان اړیکو ته ځغلند نظر

لیکنه: علم گل سحر

د افغانستان او آلمان ترمنځ اړيکې د امير حبيب الله خان په دوره کې پيل شوې، خو د دواړو هيوادونو ترمنځ ډيپلوماتيک روابط په ۱۹۲۱ م کال کې ټينگ شوي دي، د دواړو هيوادونو ترمنځ لومړنی قرارداد په فرهنگي برخه کې لاسليک شوی دی، چې له مخې يې په ۱۹۲۴ کال په کابل کې د ۱۲۰ زده کوونکو په گډون آلماني ښوونځی تاسيس شو او د اوسپنې د لارې جوړولو او افغانستان ته د آلماني متخصصينو د استولو قرارداد لاسليک شو.

له هغه وروسته په ۱۹۲۶ کال کې د دواړو هيوادونو ترمنځ د دوستی تړون لاسليک شو او په ۱۹۲۸ کال کې د غازي امان الله خان په سفر سره د دواړو هيوادونو ترمنځ اقتصادي روابط ټينگ شول، افغانستان له بل هيڅ هيواد سره دومره پراخ اقتصادي او تجارتي تړونونه نه لرل. آلمان د دارالامان ماڼۍ د نقشې په تهيه کولو او جوړولو کې د امان الله خان له حکومت سره مرسته وکړه د دارالامان او پل ارتل ترمنځ سړک هماغه وخت د آلمان په مرسته جوړ شوی دی.

## د محمد نادر خان په وخت کې دغه راوبط بيرته احيا شول

،کله چې محمدنادرخان له حربيي وزارت څخه استعفی وکړه او په فرانسه کې سفير شو او له سفارت څخه له استعفی وروسته په اروپايي هيوادونو وگرځيد د (کابل پيج ) پاڼې د ليکنې له مخې نادرخان له زياترو اروپايي هيوادونو سره له خبرو وروسته پوه شو چې له جرمني پرته اروپايي هيوادونه د بهرنيانو روزنې ته زړه نه ښه کوي, کله چې پاچا شو کابل پوهنتون يې

١/ کله چې د افغانستان پاچا امان الله خان له ننه ۹۵ کاله وړاندې د فبروري په ۲۲ مه د لهرتر په تمځای کې له اورگاډي څخه ښکته شو، هغه لومړنی دولتي مېلمه و چې د ویمار جمهوریت له خوا یې هرکلی وشو. د ترقي مینه وال پاچا, شاه امان الله خان په برلین کې د خپل اوه ورځني سفر په جریان کې، د نورو شیانو په مینځ کې، د سیمنز کار، په اوبرشینوایډ کې AEG، د کلینگینبرگ نوې جوړه شوې برېښنا فابریکه او لیټ ویرین وکتل. هغه د ټیمپلهوف فیلډ کې د ٤٠ الوتکو پرېډ معاینه کړه، دا هم ویل کیږي چې د ۱۰۰ کیلومتره په سرعت سره یې د Avus په اوږدو کې تیر کړې او پخپله یې د نوي فرعي ریل گاډي چلولی دی.







تاسیس کړ څو افغان ځوانان پخپل وطن کې وروزل شي.

محمد نادر شاه خیل ورور سردار محمد عزیزخان په برلین کې سفیر وټاکه چې د افغانستان او جرمني اړیکې لا ټینګې شي او دې هیواد ته قناعت ورکړي چې افغان محصلینو ته بورسیې ورکړي، سفیر محمدعزیزخان هم بریالی شو او یو شمیر ممتاز افغان محصیلان د جرمني په پوهنتونو کې شامل شول.

محمد نادر خان په کابل کې د نجات (اماني) لیسې شاګردان چې په الماني ژبه یې زده کړې کولې او د المان لخوا تمویلېدله، هڅول او ستایل، د لوړو زده کړو لپاره یې محمدعزیزخان ته معرفي کول چې په جرمني کې زده کړې وکړي.

عبدالخالق چې محمد نادر شاه یې ترور کړ هم د هغو زده کوونکو په ډله کې و چې د لوړو زده کړو لپاره جرمني ته روان وو. خو محمدعزیزخان په جرمني او محمد نادر خان په کابل کې ترور شول. المان د افغانستان د ژئوپولیتیک اهمیت په پام کې نیولو سره تل له افغانستان سره ښو اړیکو ته لیوال و. هتلر په ۱۹۳۳ کال کې افغانستان ته یو شمیر پورونه وبښل په ۱۹۳۵ کال کې د ٦،٥ میلیون مارکو نوره قرضه افغانستان ته ورکړل شوه او بله قرضه یې ۱۵ میلیون مارکه وه چې د محرمانه پروتوکول د پوځي قرضې په نوم افغانستان ته ورکړل شوه. په ۱۹۳۹ کال کې المان د افغانستان د اداري دستګاه د بیاجوړونې لپاره طرحه وړاندې کړه له هغه وروسته یې د افغانستان په ادارو کې د الماني متخصصینو او سلاکارانو د استخدام کار پیل کړ. چې د پولیسو او نورو ادارو په جوړولو کې یې ښه رول ولوباوه.

په ۱۹۴۱ کال کې افغانستان او بیا له دې لارې هند ته د لښکرو د استولو طرحه د آلماني اردو د عالي قوماندانی له خوا مطرح شوه چې عملي نه شوه.

*د آلمان د فدرالي جمهوریت په منځ ته راتلو سره له افغانستان سره یو مهم تړون لاسلیک شو چې د زیمنس- شوکرت شرکت و. د دې تړون له مخې د سروبي بند د نیمه تمامې پروژې کار بیا پیل شو. په ۱۹۵۰ کال کې آلمان افغانستان ته تجاري پور ورکړ او یو کال وروسته په ۱۹۵۱ کې د مونیخ په ښار کې د افغانستان تجارتي نمایندګي پرانیستل شوه او یو کال وروسته د دواړو هیوادونو ترمنځ د تجارتي مالونو د تبادلې قرارداد لاسلیک شو. افغانستان د خپلو ډیرو کارخانو د فني تجهیزاتو سفارش آلمان ته ورکړ.*

د دواړو هیوادونو ترمنځ دیپلوماتیکې اړیکې په ۱۹۵۴ کال بیا پیل شوې چې له هغه وروسته ډیر قراردادونه لاسلیک شول.

هغه پروژې چې آلمان پکې ونډه لرله:

د صابون جوړولو کارخانه، په شمال کې د نباتي غوړو د تولید کارخانه، د برښنا د تولید پروژه، د کابل د ټیلیفون سیستم پروژه، سربیره پردې د کادرونو د روزنې په برخه کې ډیره مرسته وشوه.

د افغانستان د (۱۹٦۷-۱۹٦۲) کلونو د پنځه کلن پلان په بهیر کې آلمان له افغانستان سره مالي مرستې زیاتې کړې. داوودخان په ۱۹٦۱ کال کې آلمان ته سفر وکړ، داچې هغه پر بیطرفۍ ډیر ټینګار کاوه دومره د المانیانو د هرکلي وړ ونه ګرځید ،خو د صدراعظم په حیث د ډاکټر یوسف په ټاکلو سره چې د افغانستان د بورژوازي استازی بلل کیده او له لویدیځ سره یې د



محمدنادرشاه چې د الماں او افغانستان ترمنځ يې ديپلوماتيکې اړيکې بيا او په ښه ډول پيل کړې.



په برلين کې افغان سفير محمدعزيزخان چې په الماں کې ترور شو

نړدیوالي سیاست غوره کړ له افغانستان سره د مرستو په برخه کې د آلمان لیوالتیا زیاته شوه. هغه وخت یې ۲۶۰ میلیونه مارکه قرضه افغانستان ته ورکړه.

د ثور له بدلون وروسته د افغانستان او غربي هیوادونو مناسبات ټیټې کچې ته را ښکته شول ،په ۱۹۷۹ کال کې الماں د افغان مجاهدینو له خوا د دوو الماني کورنیو د وژلو په پلمه له افغانستان سره خپل ډیپلوماتیک روابط وځنډول.

افغانستان ته د پخواني شوروي د ځواکونو په راتلو سره آلمان له افغانستان څخه خپل اتباع ور وغوښتل یوازې یې د خپل سفارت څو تنه کارکوونکي په افغانستان کې پریښودل. الماں د خپلو اقتصادي مرستو په بدل کې له سوسیالستي دولتونو سره د افغانستان د اړیکو د پرې کولو شرط کیښود ، د دواړو هیوادونو ترمنځ روابط ساړه شول په دې ډول دیرش کلن روابط د ډاکټر نجیب الله د حکومت تر پایه پرې و په ۱۹۹۲ کال کې د مجاهدینو په راتلو سره هم کوم بدلون پکې رانغی.

د لنډمهالي اداري په منځ ته راتلو سره له آلمان سره د افغانستان اړیکې یوه نوي پړاو ته ننوتل.

آلمان په کال کې ۱۹۰ میلیون یورو د افغان امنیتي ځواکونو د روزنې لپاره مرسته کوله، دې هیواد د افغانستان د بیا رغاونې په برخه کې په کال کې ۳۵۰ میلیون یورو مرسته کوله.

*په تيرو کابو شلو کلونو کې د سلو زرو په شاوخوا کې پوځي آلمانيان د نړيوالو ځواکونو په چوکاټ کې او نور غير پوځي آلمانيان له افغانستان سره د بيارغونې په برخو کې د همکارۍ لپاره هيواد ته راغلي وو. دغه راز يې د هيواد په شمال کې د سرک جوړونې، د برښنا بندونو او د ځنباک اوبو د پروژو په بشپړولو کې يې مرستې وکړې.*

## په بهر کې د آلمان فرهنګي سیاست:

د آلمان یوه پخواني صدراعظم ویلی برانت [۱۹۷۴ ـ ۱۹۶۹] په بهر کې د آلمان فرهنګي سیاست د دغه هیواد د بهرني سیاست دریم رکن وباله. چې له هغه وروسته آلمان په دې برخه کې ډېره بودجه منظور کړه او ددې سیاست د پلي کولو لپاره یې یو شمیر اداري او موسسې رامنځ ته کړې.

الماں یوازې د آسیا لپاره د خپلې بودجې ۱۵/۶ سلنه په فرهنګي او د زده کړو په چارو لګوي

په آلمان کې کابو۲۴۵زره بهرني محصیلین ددې هیواد په علمي مرکزونو او پوهنتونونو کې په زده کړو بوخت دي.

آلمان په ۷۱ هیوادونو کې ۱۴۰ ښوونځي او تعلیمي موسیسې لري.

په افغانستان کې له وروستي بدلون وروسته د دواړو هیوادونو د دولتونو ترمنځ ډیپلوماتیکې اړیکې پرې شوې خو آلمان د خیریه چارو په برخو کې خپلې همکاري جاري ساتلې دي.

# جرمني ته د نويو راغلو افغانانو ستونزې



آسیه محرابي

هغه نوي راغلي افغانان چې د ۲۰۲۱ میلادي کال د اګست د ۱۵ نېټې (د جمهوریت له راپرځیدو) را وروسته جرمني ته مهاجر شوي، د سختو کړکیچنو حالتونو سره مخ دي.

سربېره پر دې چې دوی دلته په امن کې شپې او ورځې سبا کوي، د خوړلو او څښلو ستونزې نه لري ،خو بیا هم له ډېرو نورو وړو او لویو ستونزو سره مخامخ دي، لکه د استوګنې ځاې. د استوګنې ځاې/کور لرل هرې کورنۍ ته اړین دی ،په تېره بیا افغانانو ته چې د ډېرو اولادونو یا لویو کورنیو څښتنان دي. البته په افغاني ټولنه کې تر ۸۰ سلنه زیاتې کورنۍ تر څلورو ډیر اولادونه لري او اکثره نوي راغلي افغاني کورنۍ چې لویې وي ، یعني تر دوو ډیر اولادونه لري، د بې کورۍ له ستونزې سره مخامخ دي دا ځکه چې په جرمني کې اکثره کورنۍ وړې دي.

که یوه جوړه ( مور او پلار ) یو اولاد ولري، وړه کورنۍ ورته ویل کیږي او که دوه یا درې اولادونه ولري، منځنۍ او که څلور یا تر څلورو زیات اولادونه ولري، لویه کورنۍ بلل کیږي.

په ۲۰۱۹ میلادي کال کې د یوې دولتي سروې له مخې اټکل شوې چې په جرمني ۵۱،۲ ٪ کورنۍ یو ماشوم، ۳۶،۵ ٪ کورنۍ دوه اولادونه، ۹،۴ ٪ کورنۍ درې اولادونه او ۲،۱ ٪ کورنۍ څلور اولادونه لري.

په منځنۍ سطح په جرمني کې کرایي کورنه/اپارتمانونه د اولاد لرونکو کورنیو له پاره د دریو خونو او یو تشناب سره په کرایه ورکول کیږي، چې دا کورنه د یوه اولاد یا هم یوه جنس لرونکو دوه هلکان/دوې نجونې لرونکې کورنیو ته اختصاص شوي دي.

د څلورو خونو او دوه تشنابونو لرونکي اپارتمانه/کورنه هم شته چې فیصدي یې د دریو خونو لرونکو پر تله ډیره کمه ده، دا کورنه بیا یوې جوړې کورنۍ ته چې اولادونه یې جینۍ او هلک وي، اختصاص شوي دي.

د پنځو یا شپږو خونو لرونکي اپارتمانونه یا شخصي کورونه کله نا کله په کرایه موندل کیږي چې دا کورونه احتمالا مهاجرو ته نه ورکوي، ځکه چې کرایه یې ډیره لوړه ده چې نوي راغلي مهاجر د لوړې کرایې لرونکو کورنو لګښت نه شي ورکولی ،ځکه دوی د دولت مرستو ته اړ دي او دولت هم د دې وس نه لري چې یوې لویې کورنۍ ته د نورو اړتیاو د پوره کولو تر څنګ ،د لوړې بیې کور هم په واک کې ورکړي. د پورته دلایلو پر اساس، د جمهوریت د تر پرځیدو راوروسته نوي راغلي افغانان لا هم په کمپونو یا هوټلونو کې دي او د بې کورۍ له سختو ستونزو سره لاس او ګریوان دي.

که څه هم په کمپونو او هوټلونو کې هره کورنۍ محفوظه ده خو اکثره داسي وي چې د دوی ورځنۍ ژوند له نورو پناه غوښتونکو مهاجرینو سره ګډ یا ویشل شوی وي.

تشنابونه یا پخلنځۍ یې ګډ وي او که جلا هم وي، د خونې په یوه څنډه کې یو ډیر وړوکي پخلنځۍ وي. همدارنګه تشناب یې هم خونې ته ډیر نږدې وي ،چې یوه کورنۍ پکې ځان هوسا او خوندي نه احساسوي.

په همدې شکل هره افغانه کورنۍ چې تر دوه یا درې ماشومانو زیات و لري، په داسې کمپونو کې ګډ اوسیږي، البته نه یوازې افغانان،بلکه د نورو هیوادونو ګډوال هم ورسره یو ځاې اوسیږي.

اکثره کورنۍ یو د بل له شتونه په غیرمستقیم ډول سره اذیتږي، ځکه له یوه پلوه یې کورونه واړه او تنګ وي او له بله اړخه همدا تنګو کورنو کې ګډ یا ډیر نږدې شپې او ورځې سبا کوي.

### د کیسې په پیځکه غوټه سل کیسې دي:

# د استاد غضنفر د یوې کیسې ارزونه

احسان الله درمل

«بوډاګان» د استاد غضنفر له شاوخوا یونیم زر کلیمو جوړه لنډه کیسه ده چې تر شا یې ګڼې نورې کیسې هم پرتې دي. په دې لیکنه کې د دغو شاته پرتو کیسو د را سپړلو هڅه کېږي.

په کیسه کې داسې نښه یا قرینه نشته، چې د هغې «تیم» ته مو متوجه کړي، خو د مرکزي کرکټر حاجي عثمان کړه وړه په نامستقیم ډول لړترلړه ماته وایي چې دغه کیسه د انسان د حافظې او دلچسپیو په اړه لیکل شوې ده. د انسان ذهن او حافظه (آن که الزایمر یا ډمنشیا هم ولري) هغه خبره نه هېروي چې د ده په ګټه وي، خو نورې خبرې که ډېرې مهمې هم وي، ترې هېرېږي. د انسان حافظه د یوه ډېر لوی ګودام د دیوالونو په څېر ده. دغه دیوالونه له ګڼو مېخونو یا هېنګرونو ډک دي. که کومه خبره د کوټ یا کالیو غوندې پر دې مېخونو او هېنګرونو وځړېده، نو په حافظه کې پاتېږي او که بنده نه شوه، نو لاندې د هېرتابه تیارې ته غورځېږي. په ډمنشیا یا الزایمر کې به ممکن دغه مېخونه کمېږي، خو په ځوانۍ کې هم که له کومې خبرې سره دلچسپي و نه لرو، غورځېدلې یې بویه. برعکس که په څلوراتیا کلنۍ کې هم کومه خبره زموږ په طبعیت برابره شوه، نو پر یو مېخ به خامخا را ځړېږي. حاجي عثمان څلوراتیا کلن بوډا دی. ده ته د خپل همځولي ملګري مامور لطیف دا خبره یاده ده چې «ته د ځوانانو غاړې کوې» خو دا یې هېره کړې ده چې «پارکونه تر غرمې له مخه د بوډاګانو وي او تر غرمې وروسته د ځوانانو». ځکه خو په یوه پسرلني مازدیګر د ښار د منځ پارک ته رسېږي. هلته یوه ښایسته پېغله ویني، مینېږي غوندې. وروسته یې په غلطه دروازه کې لټوي او سبا ته یې ګر سره په یاد نه وي، چې پرون څه تېر شوي ول؟ خو د راډیو هغه خبر چې د ده په طبعه برابر دی په سهارني اخبار کې هم لټوي او د هغه په اړه مسلسل فکر کوي. له بلې خوا، د مامور لطیف هم ټولې خبرې هېرې دي، خو صرف هغه یې پر زړه نقش ده، چې حاجي عثمان ورته ویلي ول: «زړه به دې باغ باغ شي». ځکه چې دی د زړه ناروغ دی.

د کیسې بل تیم د انسان د ذهن او واقعیت یا د سوبجیکټ او ابجیکټ رابطه کېدای شي. انسان په حقیقت کې واقعیتونه د خپل ذهن یا سوبجیکټ په خوردبین یا کتمه بین کې ویني. هغسې یې نه ویني چې دي. په بله ژبه دنیا هغسې ګوري چې ده ته ښکاري، د هغې بڼې د لېدو هڅه یې نه کوي، چې په واقعیت کې ده. حاجي عثمان شکره لري. د ډاکټر په خوله باید خواږه شیان کم کړي، سګریټ پرېږدي، له غوړو سره احتیاط وکړي او پلی تګ ډېر کړي. دې کارونو د هغه په بدن کې په تېر یو کال کې دومره مثبت تغییرات را وستي دي، چې ملګری یې شاته پرېښی؛ هغه ورته ویلي: «ته اوس د ځوانانو غاړې کوې» او په څلوراتیا کلنۍ کې له یوې پېغلې سره د تار غځولو هوس ور پیدا شوی. خو همدا چې په چین کې د یوه بوټي په اړه عامیانه غوندې خبر اوري، نو دغه ټولې کیسې هېروي او دې حقیقت

(!) ته رسېږي چې: «چين ډېره ترقي نه ده کړې!» کيسه راته وايي چې زموږ غوښتنې او هيلې څنګه زموږ ذهن دې ته تياروي چې د نه منلو خبرې ومني او د منلو هغه ايګنور کړي.

درېيم او احتمالي تيم دا کېدای شي، چې په دې دنيا کې ګڼې کيسې دي. هر چاته صرف هغه مهمه ده او اورېدل يې غواړي، چې د ده په ګټه ده. حاجي عثمان د هغه بوټي په اړه فکر کوي چې د چين په جنوب کې پيدا شوی او د شکرې لپاره ټک پټری دی. خو ملګری يې مامور لطيف بل مشکل لري. هغه د زړه ناروغ دی او د حاجي له خولې هغه کيسه اورېدل غواړي چې زړه پرې باغ باغ کېږي. د زړه مسله چې حاجي عثمان ته مهمه نه ده، ګر سره يې هېره ده، چې تېر ماښام يې د جومات په مخکې مامور ته څه ويلي ول. مامور ته بيا نه چين، نه بوټی او نه د چين ترقي مهم دي. يوازې يوه خبره يې پر زړه ناسته ده: «هغه به څه وي، چې زړه باغ باغ کړي؟» د دې دوو بوډاګانو د نظر او دلچسپيو توپير دا خبره هم راته وايي، چې هر شي ته ارزښت زموږ اړتيا ورکوي. که اړتيا نه وي، ارزښت هم نشته.

څلورم تيم د واقعيت او ارزوګانو ترمنځ کشکمش دی. حاجي عثمان غواړي چې ځان ځوان وښيي، ورزش کوي، نجونو ته موسکی موسکی کېږي، د سهار پر ځای مازديګر پارک ته ځي خو ذهن يې په الزايمر اخته دی، ګام په ګام يې مهمې خبرې هېرېږي، د بنفشو له عطرو خوند نه شي اخيستلای او پر افواهاتو باور لري. يعنې سړی په واقعيت کې د څلورواتياوو دی، خو د ده ارزو ده چې د دېرشو ښکاره شي. دغه تريخ واقعيت او خوږه ارزو دې کرکټر ته يو داسې شخصيت ورکوي، چې جالب دی.

په دې کيسه کې لږترلږه زما لپاره د دوو درو نورو تيمونو د لېدو امکانات هم شته. البته ذهن به ورته بدلوو. مثلاً که په سياسي ذهن يې ولولو نو يو تيم په کې نغدچغد ښکاري. د شهکارونو حسن دا وي چې د هر ذهنيت لوستونکی په کې خپله څېره لېدلای شي. سيمبوليک اثار دغه ظرفيت لري، چې د يوې پر ځای ګڼې خبرې را ته وکړي. په شعر کې د «معنی آفرينی» مطلب دا دی چې شاعر يوه خبره په داسې ډول وکړي، چې ګڼې معناوې ترې واخيستلای شو. که پېښې داسې کيسه شي، چې د يوه پر ځای ګڼ تيمونه وزېږوي، زما په نظر خو دې تخنيک ته «تيم آفرينی» هم ويلای شو. غالب به ويل چې: «شعر قافيه پيمايي نه، بلکې معنی آفرينی ده.» د غالب خبره پر ټولو هنرونو صدق کوي. هغه اثر چې صرف يوه خبره کوي، ډېر لوی اثر نه دی. رېښتيني ادبي اثار يوه نه، ګڼې خبرې کوي.

په «بوډاګان» کې درې کرکټرونه لرو. اصلي کرکټر حاجي عثمان دی، چې څلوراتياکلن ښودل شوی، څکه چې د مامور لطيف همځولی دی. دوهم څنګزن کرکټر مامور لطيف دی او درېيم هم په پارک کې ناسته پېغله ده. دغه هر يو په داستان کې د ونډې په تناسب معرفي شوی دی. حاجي عثمان شکره لري، پخوا يې سيګريټ څکولي، د وينې غوړ لري. خو اوس د ډاکټر خبرو ته پام کوي، پلی ګرځي او د ځوانانو غاړې کوي. حاجي لوستی دی، خبرونه اوري او اخبار هم لولي. حجره لري او د راشې درشې سړی ښکاري. د عمر د زياتوالي له امله يې حافظه نه ده پاتې او په قدم، قدم کې يې خبره هېرېږي. له اوسني حالته يې معلومېږي، چې ښه ژوند يې تېر کړی او مزې چړچې يې کړې دي. څکه خو شکر او د وينې غوړ لري. زړه يې مستي غواړي، څکه چې آن په همدې عمر کې هم له يوې پېغلې سره د تار غځولو هوس ور پيدا کېږي. په سر کې يې د پېغلې په اړه رنګين خيالونه ګرځي، خو دی ځان ته قناعت ورکوي، چې څه بد نيت خو نه لري. دغه خبره د ده له کرکټر سره څکه مناسبه ده، چې د کيسې په پای کې هم د عقل پر ځای د زړه په خبره پسې روان دی. دی داسې يو کرکټر دی، چې له ځان سره په جنګ دی. ټول بدن يې ورته وايي چې د څلورواتياوو يې خو دی يې نه مني وايي ځوان يم. دغه ځان ته دروغ ويل او ځان تېرايستنه د ده د شخصيت مهمه برخه ده. د حاجي عثمان د اروا تجسم په دې کيسه کې د تيم لپاره ډېر مهم دی، څکه خو يې ظاهري څېرې ته ډېره توجه نه ده شوې. خو په پارک کې ناسته پېغله چې د اصلي کرکټر هومره ژور او مهم نقش نه لري او نقش يې هم له ظاهر سره غوټه دی، نو د ظاهر په يادولو يې اکتفا شوې ده. مامور لطيف هم په کيسه کې څو ځايه ياد شوی. يو وخت له اصلي کرکټر سره ورزش کوي؛ بيا ترې پاتېږي؛ بيا د جومات مخې ته او بالاخره د حاجي صاحب په حجره کې. هغه هم څلوراتيا کلن دی، خو د اروا تيارې څاه ته يې د لنډ مهال لپاره يوه هنداره څکه ور پرکول شوې ده، چې غوښتنې او ستونزې يې له حاجي سره متفاوتې دي او دغه تفاوت کيسې ته د متفاوت تيم په ورکولو کې نقش لري. له بلې خوا، د دې کيسې څنګزن کرکټرونه د سيارو غوندې د اصلي کرکټر په مدارونو کې

ځرخېږي. یعنې ځای، ځای د اصلي کرکټر په معرفي کې مرسته کوي. مثلاً په پارک کې پېغله د دې لپاره ده، چې د اصلي کرکټر د ځوانۍ د نمایش عاشقانه اړخ هم راته وښیي.

د کیسې نثر د داستان تیپکل نثر دی، چې ځای ځای د صحنو او کرکټرونو په پېژندنه کې لا فعالېږي. حاجي عثمان چې په پارک کې له پېغلې جینۍ سره خبرې پیلوي او داسې احساس هم کوي، چې هغه یې په نیت پوهېږي، نو د کیسې د جملو ریتم او د فعلونو لنډ لنډ راتګ دومره تېز شي، چې په دغسې حالت کې د کرکټر د زړه له تېزې درزا سره ډېر اړخ لګوي. د زړه د تېز ریتم پر مهال د زړه د دوو ضربانونو ترمنځ موجود زماني واټن کمېږي. په دې جملو کې د فعلونو ترمنځ د فاصلې کموالي ګڼو حرکاتو ته لاره هواره کړې ده، چې د زړه تېز ریتم را تداعي کوي. په کیسه کې لولو:

«نجلۍ یې وپوښتله: ځو بجې دي؟ هغې چې لاس پورته کړ، ده یې د لاس بند ته وکتل. هغې چې ساعت ته وکتل، ده یې د بنو له کوزېدا خوند واخیست. هغې چې لېمې راجګې کړې، د ده زړه یې د بنو هسکېدا ته ورپېد او هغې چې وویل، پاو کم شپږ بجې؛ ده یې د ساه ګرمي او د عطرو بوی احساس کړل.»

د کیسي بل تیم د انسان د ذهن او واقعیت یا د سوبجیکټ او ابجیکټ رابطه کېدای شي. انسان په حقیقت کې واقعیتونه د خپل ذهن یا سوبجیکټ په خوردبین یا کتبه بین کې ویني. هغسې یې نه ویني چې دي.

همدارنګه په مکالمو کې راغلې خبرې د بوډاګانو له عمر او د خبرو له طرز سره ډېرې لګېږي. مامور لطیف د دې پر ځای چې وپوښتي: «څه چل دی؟» وایي: «چل څه دی؟». بوډاګان چې یو عمر یې له ژبې سره لوبې کړې وي، پوهېږي چې د کلیمو په وړاندې وروسته کولو سره څنګه پر مطلوبه کلیمه فشار راوړلای او خپله خبره لا ښه کولای شي.

د کیسې ځایزمان هم نامستقیم خو ډېر واضح دي. د وخت په لحاظ یو هغه وخت دی، چې په کیسه کې ځو راغلې پېښې په کې شوې دي او بل هغه زمانه چې کرکټرونه په کې اوسي. کیسه په ۱۳۷۶ کې لیکل شوې ده، خو له پېښو شکارې، چې د دې کلونو کیسه نه ده. ځکه چې په دې کلونو کې داسې پېغلو عامو پارکونو ته د تګ اجازه نه لرله، چې اوږده بانه یې آن د څلوراتیاکلن بوډا د زړه تلې تخنولای شي. په دې لحاظ نو دا کیسه د آرامۍ د کلونو کیسه ده، چې وطن جوړ دی؛ خلک په کې څلوراتیاکلنۍ ته د رسېدو فرصت لري؛ په زړبوډۍ کې د زړه او شکرې له ناروغیو سره پنجې نرموي؛ پارکونه په بربخر له بوډاګانو او په مازدیګر له ځوانانو ډکېږي او پېغلې عمومي پارکونو ته تللای شي. د دغسې کېسو لپاره اوږده ثبات ته اړتیا ده او زموږ په تاریخ کې د نسبتاً اوږده ثبات زمانه ټولو ته معلومه ده. خو هغه زمان چې د داستان مهمې پېښې په کې پېښېږي او دغه پېښې د کرکټر په اروایي پېژندنه کې راسره مرسته کوي، د اصلي کرکټر د څلوراتیایم پسرلي یو مازدیګر، یو ماښام او یو سهار دي.

د ځای نوم نشته خو پارک، په پارک کې پېغله، د ورزش او پیاده تګ لپاره سهولتونه راته وایي چې ممکن د وطن کوم لوی ښار دی. له بلې خوا جومات او د حاجي عثمان حجره ذهن یو څه د کلي خوا ته بیایي. خو دا احتمال ځکه نفی کېږي، چې اصلي کرکټر لوستی دی؛ د ډاکټر سپارښتنې یې کلکې منلې دي؛ هره ورځ اخبار لولي او حجره چلول هم ښایي د هغې زمانې په ښارونو کې سخته خبره نه وه.

د پلاټ په لحاظ په دې کیسه کې دوه ډوله پېښې رواني دي. یوه ډله پېښې د اصلي کرکټر د فزیکي او روغتیایي حالت د تغییر سبب کېږي او بله ډله د رواني. په اتو میاشتو کې مسلسل ورزش په کرکټر کې دومره تغییر راولي چې د ځوانانو غاړې کوي او آن کله یې په زړه مازدیګر تلې پلې تګ ته وتخېږي. د وینې جریان یې دومره تېز شوی، چې پېغلو نجونو ته هوسېږي. له بلې خوا کرکټر له ځان سره په جنجال اخته دی. ورزش کوي؛ د سهار پر ځای مازدیګر پارک ته ځي؛ له نجلۍ سره مجلس اوږدوي؛ له خپل همځولي د وړاندې کېدو هوس لري او دا ټول کارونه ځکه کوي چې

کرکټر غواړي چې د مامور لطیف په خبره د ځوانانو غاړې وکړي. خو بېچاره پر دې نه دی خبر چې ځواني یوازې منډې تړړې او «د کب د سهار په څېر تازه تازه پوستکی» نه غواړي، بلکې ځوان ذهن هم ورته پکار دي، چې حاجي عثمان یې نور نه لري. د مامور لطیف دا خبره به یې ارادتاً هېره کړې وي، چې پارکونو ته مازدیگر ځوانان ځي، خو له هغې ښکلې نجلۍ سره به څه کوي، چې په غلطه دروازه کې یې لټوي او سبا یې بېخي هېره ده؟ له خپلې پوزې سره به څه کوي، چې د بنفشو عطر نه شي حسولای؟ له خپلو سترګو سره به څه کوي، چې د اخبار لوستو لپاره باید له عینکو مرسته وغواړي او بالاخره به په خپل زاړه زړه او ذهن کې د ځوانۍ د بیا را ګرځېدو له ناممکنې او شدیدې ارزو سره څه کوي، چې د چین په جنوبي غرونو کې یې په یوه نامعلوم بوټي پورې داسې غوټه کړې ده، لکه بوډۍ چې د اولاد په تمه د زیارت په کړه جنډه پسې دسمال وتړي؟ رښتیا چې اوبو اخیستی هر بوټي ته لاس اچوي.

د استاد غضنفر کیسه بوډاګان دلته لوستلی شئ:

حاجي عثمان ته ډاکتر ویلي و خوارږه شیان مه خوره، سګرېټ مه څکوه، له غوړو سره احتیاط کوه، پلی تګ مه هېروه،څه نا څه خامخا ګرځه.

حاجي پوره اته میاشتې دغسې وکړل. اوس تر تېر کال بهتره و. یوه نیمه ورځ به یې ان یو، یو نیم ساعت قدم واهه. ژمی نور ختم و. هوا ورځ په ورځ ماتېده. حاجي هڅه کوله د چکر لمن وغځوي، ځکه خو مامور لطیف ورته وویل: ته د ځوانانو غاړې کوې، نور درسره نه شم ګرځېدلی.

مامور هم څلوراتیا کلن و، د حاجي همزولی و مګر ناروغي یې بېله وه. دی د زړه ناروغ و او حاجي د شکرې.

د پسرلي په لومړیو ورځو کې یو مازدیګر د چکر په وخت په حاجي باندې هوا دومره ښه ولګېده چې کورتۍ یې ورته وایستله،د لاس لستوڼي یې یو څه رابر وهل او د کمیس پاسنۍ تڼۍ یې پرانیستله. پسرلنۍ وږمې د حاجي پښې وتخنولې؛ نوې، نوې کوڅې یې وربانده ولیدې، اخر د ښار د منځ په پارک ورپېښ شو، نېغ ورغی. دی مازدیګر مهال دا ډېر کلونه پارک ته نه و تللی. مامور لطیف یوه ورځ ورته ویلي وو، پارکونه تر غرمې له مخه د بوډاګانو وي او تر غرمې وروسته د ځوانانو. د مامور دا خبره یې په زړه لګېدلې وه، په یاد به یې وه، خو اوس یې هېره وه.

په پارک کې یې له دروازې سره نژدې پر یوې پېغلې سترګې ولګېدې چې په سمټي چوکۍ یوازې ناسته وه. مخ ته یې ځیر شو. تندی یې پلن و، ویښته یې خرمایي وو، پوزه یې نرۍ وه، سترګې یې غټې وې خو حاجي یې تر هر څه زیات د پوست تاندوالي ته فکر یووړ چې د عمر پسرلي وربانده خپله ټوله لورېینه کړې وه. لکه د کب د میاشتې لمرین سهار تازه تازه و. حاجي چې یې څنګ ته تېرېده، له ځان سره یې وویل: ولې ورته په غټو غټو ونه ګورم، زه خو څه بد نیت نلرم! دغه وخت د حاجي شونډې موسکې شوې، لکه چې په خپل هوس پورې خندا ورتله. له نجلۍ تېر شو، یو څو ګامه پر مخ لاړ او بیا وچ ودرېد. حاجي ځان ته په فکر کې شو. زړه یې په رشتیا نه غوښتل له نجلۍ تېر

په دې کیسه کې لږترلږه زما لپاره د دوو درو نورو تیمونو د لېدو امکانات هم شته. البته ذهن به ورته بدلوو. مثلاً که په سیاسي ذهن یې ولولو نو یو تیم په کې نغدچغد ښکاري. د شهکارونو حسن دا وي چې د هر ذهنیت لوستونکی په کې خپله څېره لېدلای شي. سیمبولیک اثار دغه ظرفیت لري، چې د یوې پر ځای ګڼې خبرې را ته وکړي. په شعر کې د «معنی آفرینی» مطلب دا دی چې شاعر یوه خبره په داسې ډول وکړي، چې ګڼې معناوې ترې واخیستلای شو. که پېښې داسې کیسه شي، چې د یوه پر ځای ګڼ تیمونه وزېږوي، زما په نظر خو دې تخنیک ته «تیم آفرینی» هم ویلای شو. غالب به ویل چې: «شعر قافیه پیمایي نه، بلکې معنی آفرینی ده.» د غالب خبره پر ټولو هنرونو صدق کوي. هغه اثر چې صرف یوه خبره کوي، ډېر لوی اثر نه دی. رېښتیني ادبي اثار یوه نه، ګڼې خبرې کوي.

شي. نیم ساعت پرله پسې مزل یې په بدن کې د وینې جریان چټک کړی او ذهن ورفعال کړی و. یو چل ته یې پام شو. مخ یې بېرته نجلۍ ته واړاوه. هغې سترګې ورهسکې کړې. سترګې یې دا ځل لا غټې او لا برنډې معلومېدې خو حاجي ورته وارخطا نه شو، له خپل چله یې کار واخیست، نجلۍ یې وپوښتله: څو بجې دي؟ هغې چې لاس پورته کړ، ده یې د لاس بند ته وکتل. هغې چې ساعت ته وکتل، ده یې د بڼو له کوزېدا خوند واخیست. هغې چې لېمې راجګې کړې، د ده زړه یې د بڼو هسکېدا ته ورپېد او هغې چې وویل، پاو کم شپږ بجې؛ ده یې د ساه ګرمې او د عطرو بوی احساس کړل. اوس نو هغه وخت و چې حاجي به ورته ویل، ډېره مننه، خیر یوسې، خو پام یې شول چې نجلۍ د ده خپل ساعت هم لیدلی شي. د حاجي د چپ لاس بند چې ساعت وربانده تړلی و، د امسا په سر داسې پروت و چې د نجلۍ تېزو نظرونو یې د ثانیو پته هم لګولی شوه. حاجي ژر مخ واړاوه او د پارک منځ ته روان شو.

هورې په یوه تشه چوکۍ کېناست. خوب یووړ. لس، پنځلس دقیقې وروسته چې څنګه راویښ شو، نجلۍ وریاده شوه. پسې راپاڅېد. د پارک دروازې ته یې ځان ورساوه خو هغه یې ونه مونده. زړه یې یوه لېونۍ تنده احساس کړه، لکه څوک چې د وروستي ځل په مخه د چا دیدارغواړي، لکه فرصت چې د ابد لپاره له  ګوتو وځي. هماغلته تر ډېرو پورې کوز پاس وګرځېد. هره چوکۍ یې جدا جدا ولیده، د پارک تر چنارونو راتاو شو، د ګلاب د بوټو په منځ کې یې نرۍ لارې وپلټلې، د تازه وښو بوی یې راکاږه، بنفشو ته یې پوزه ورنژدې کړه خو د هغې د عطرو بوی تري تم و. مایوس شو. د پارک له دروازې ووت او چې څنګه یې واټ ته وکتل په خپله غلطي پوه شو.

دی باید د پارک په هغه بله  دروازه کې په نجلۍ پسې ګرځېدلی وای. ده ته وریاد شول چې دغه پارک دوې دروازې لري، یوه شمال او بله جنوب ته. حاجي ستړی و، تږی و او اوس چې کوم ځای ته راوتلی و، د دوی کور ورنه یوازې اووه، اته دقیقې لرې و. د نجلۍ له دیداره تېر شو، مخ په کور وخوځېد او د ماښام جمعه یې خپل جومات ته ورسوله.

هورې ورته مامور لطیف وویل: ډېر موسکی، موسکی کېږې، چل څه دی؟
حاجي وویل: مه مې غږوه، بې حده ستړی یم.
مامور په پوښتونکو نظرونو وځیره.
حاجي ورته وویل، سبا سهار حجرې ته خامخا راشه، پوه به دې کړم.
مامور په سترګو کې ورته وخندل، سر یې ورته وخوځاوه.
حاجي زیاته کړه، چکر ته دې نه بیایم، مه وېرېږه، یو داسې چل به در زده کړم چې زړه دې باغ، باغ شي، چې بېرته ځوان شې.

ماخوستن حاجي د نورکله غونډې د راډیو خبرونه واورېدل. په روغتیایي خبرونو کې راغلي وو چې یوه چیني عالم د چین د جنوب په غرونو کې یو بوټی پیدا کړی دی چې که وچ شي او اېښولې اوبه یې وڅښل شي، د شکرې ناروغانو ته تر بلې هرې دوا ګټور دی. دغه خبر په حاجي ډېر اثر وکړ. سهار یې تر چایو دمخه لا د مطالعې عینکې په سترګو کړې، اخبار یې وغوښت. د چیني عالم خبر په اخبار کې هم چاپ شوی و. دوه، درې ځله یې په دقت ولوست.

وروسته بیا چې مامور لطیف راپیدا شو او د حاجي په وړه حجره کې یې د نور کله غونډې د کړکۍ خوا ته ډډه ووهله، حاجي سمدستي د چیني عالم د کشف کیسه شروع کړه.

مامور وویل، اوس نو هغه بله خبره وکړه!
حاجي وویل، کومه خبره؟
مامور وویل، ولې هغه جومات کې چې دې کوله، ماښام!
حاجي ته څه وریاد نه شول.
مامور وویل، هغه چې ویل دې، نپوهېږم زړه به باغ، باغ کړي، که څنګه؟
حاجي بیا هم غلی و. حافظه یې ورېلله خو څه نه وریادېدل.
د زړه رنځور ملګري یې په شونډو کې وبوښېد: چې ویل دې یو چل دی چې زړه به دې تازه کړي.
خو حاجي ته څه نه وریادېدل. د هغه له ذهنه نجلۍ داسې وتې وه لکه له ژونده چې یې ځواني تللې وه. درې، څلور دقیقې وروسته یې وویل: چین ډېره ترقي نه ده کړې!

۱۳۷۶



# په جلاوطنۍ کې د افغان خبریالانو ننګوونې

نذیراحمد سهار، خبریال
هایدلبرګ، جرمنی

د ۲۰۲۲ کال د جنوري په یوه یخه شپه کې یوې لویې کارګو الوتکې په هانور هوایي ډګر کې د جرمني ۲۴۲تنه افغان سیمه ییز همکاران (Afghanische Ortskräfte) او د هغوی د کورنیو غړي کوز کړل. په دې الوتنه کې په لسګونو تنه خبریالان او د هغوی کورنۍ وې، چې د جرمني د بې پولې خبریالانو ټولنې او نورو ادارو له لارې له افغانستان نه را ایستل شوي وو. په دې ډله کې یو تن عظیم الله و، چې درې کاله یې د افغانستان په شمال کې د بهرنیو ځواکونو له مالي ملاتړه برخمنې یوې سیمه ییزې راډیو سره خبریالي کړې وه. عظیم الله له دې امله خوښ و، چې نور د طالبانو له اړخه له ورپېښو ګواښونو خوندي دی، خو دې اندېښنې یې ذهن ژور بوخت کړی و، چې په دغه نوي چاپیریال کې به دی په خپل مسلک کې د کارکولو فرصتونه ومومي او که یه؟

دغه اندېښنه د ګڼو هغو خبریالانو په ذهنونو او دماغونو کې راګرځي، چې د جګړې، ګواښونو او تعقیبونو له امله په لویدیز، په ځانګړې توګه اروپایي هېوادونو کې د جلاوطنۍ شپې تېروي. ډېری دغه خبریالان د ۳۰او ۵۰ کلونوترمنځ عمرونه لري او له تخصصي زده کړو او کافي کاري تجربو سره سره په نوي محیط کې ډېر انتخابي عمل نه شي کولای. له همدې امله یا غیر ارادي مسلک بدلوي او یا د تخنیکي او اضافي زده کړو له لارې په نوي محیط کې د نویو فرصتونو په لټه کې دي.

## مسلکي هویت ساتل څومره ممکن دي؟

د کډوالۍ/جلاوطنۍ یو خورا ناوړه او ډېر محسوسېدونکی اړخ غیر داوطلبانه مسلک تغییرول (Involuntary Career Changes) دي. دغه تغییر له داوطلبانه او پلانیزه مسلک بدلولو سره توپیر لري او ډېر وخت غیر ارادي او اجباري وي. د داوطلبانه هغه برعکس، چې افراد پکې د یوې واردمخه کاري ساحې او محیط د انتخاب لپاره کافي فرصتونه لري، دغلته فرصتونه خپلخوښې نه دي. دلته معمولاً د بهرنیو فاکتورونو او ناکنټرول وړ شرایطو له امله سړی خپل کاري مسیر بدلوي او دا تغییر د فرد مسلکي هویت (Professional identity)، کاري کرکټراو د اړیکو کانالونه هرڅه اغیزمنوي.

د افغانستان د تېرو دوونسلونو د جلاوطنۍ او کډوالۍ تجربې ښيي، چې اکثريت کډرونو خپلې کاري برخې په غير ارادي ډول بدلې کړې او راوروسته نسلونه يې ددې جوګه کړل چې د ټولنيز ادغام د بهيرونو بشپړاوي او محيطي همغږيو له لارې د خپلخوښو انتخابونو پر بنسټ پرمخ لاړ شي. واک ته د مجاهدينو له راتګ سره هممهاله لويديز ته کډوالو او جلا وطنه افغان خبرياﻻنو د کډوالۍ خبريالي (Immigrant journalism) ونه پاللای شوای، ځکه کډوالي په يوه متفاوت او بل ژبي محيط کې تيت او پاشلې وه او دوی د خپل مسلکي هويت پرېښودو ته اړ وو، خو برعکس په پاکستان او ايران کې د کډوالۍ خبريالي (جهادي ژورناليزم) کافي مخاطبان هڅوونکي عوامل، کډوال نفوس او ګډ ژبی محيط درلودل. تازه جلاوطنه خبرياﻻن هم له ورته برخليک سره مخ دي. له خپلې کاري ساحې سره فاصلې او په کوربه ټولنه کې محدودو او ترلو اړيکو او شرايطو دوی د خپل مسلکي هويت د له منځه تګ او راتلونکي په اړه اندېښمن کړي دي. دا د نوي محيط پر ټولنيزو، فرهنګي او رواني اغيزو سرباري دي.

د افغانستان د تېرو دوونسلونو د جلاوطنۍ او کډوالۍ تجربې ښيي، چې اکثريت کډرونو خپلې کاري برخې په غير ارادي ډول بدلې کړې او راوروسته نسلونه يې ددې جوګه کړل چې د ټولنيز ادغام د بهيرونو بشپړاوي او محيطي همغږيو له لارې د خپلخوښو انتخابونو پر بنسټ پرمخ لاړ شي.

د لويديزو هېوادونو په سياستونو کې د افغانستان کمرنګي او له نړيوالې صحنې د کابل غيابت ددغو هېوادونو د رسنيز پوښښ په ډلبندۍ کې د افغانستان ارزښتکچه ټيټه کړې چې پّه پايله کې يې په لويديزو رسنيو کې د افغان خبرياﻻنو لپاره کاري فرصتونه هم کم شوي دي. اروپايي، په ځانګړې توګه جرمني او فرانسوي ژبې رسنۍ د بهرنيو خبرياﻻنو له جذب او کارزده کړې پروګرامونو سره راښکون نه لري او د خبريالۍ لپاره د نوي ستنډرډ ژبې زده کول هم اوږدمهالی بهير دی.

عظيم الله چې د ځاني امنيت او مسلکي هويت د خونديتابه لپاره جلاوطنه شوی، اوس په دې فکر دی چې له خپل مسلکه هم جلا شي. د هغه په باور، د جلاوطنۍ رسنۍ له اقتصادي او فرصتي اړخونو محدودې دي او د کوربه هېوادونو سيستم پر دې تمرکز لري، چې چټکه کاري قوه و روزي او د کار مارکېټ ته يې سوق کړي. په دې توګه ډېر خبرياﻻن اړ وځي، چې خپل مسلکي هويت پرېږدي او په يوه بله برخه کې بوخت شي.

## ډيجيټل کانالونه، د تمرکز نوې نقطه

د تحقيقي خبرياﻻنو د نړيوالې شبکې د ارزونو له مخې، په تېرو ۱۵ کلونو کې د محتوا د وېش د ډيجيټل کانالونو (ټولنيزو شبکو) له را څرګندېدو سره جلاوطنې خبريالۍ نوې سا اخستې او خبرياﻻن د مسلکي هويت په ژوندي ساتلو کې د تېرو لسيزو په پرتله په غوره دريځ کې دي. د افغان خبرياﻻنو يوه وړه برخه په نويو جوړو شويو جلاوطنه رسنيو او د کوربه هېوادونو د رسنيو په پښتو او دري سرويسونو کې فعال دي. يوه برخه په دې هڅه کې دي چې د شنونکو او کارپوهانو تر نامه لاندې په بهرنيو او افغان رسنيو کې خپل حضور وساتي.

د افغانستان د ازادو ژورناليستانو د ټولنې د ارزونو له مخې، د جمهوري نظام له نسکورېدو وروسته شاوخوا ۶۰ ملي او سيمه ييز ټلويزيوني چينلونه، ۱۱۷ راډيوګانې، ۴۹چاپي خپرونې، او ۲۱ خبري اژانسونه د سياسي او مالي ستونزو له امله تړل شوي دي. له اتو زرو ډېر د رسنيو کارکوونکي چې شاوخوا ۶۰ سلنه جوړوي، وزګار شوي او له ۱۵۸۰ تنو ډېر امريکا متحده اياﻻتونو، کاناډا، اروپايي هېوادونو په ځانګړې توګه جرمني، فرانسې او هسپانيې ته جلاوطنه شوي.

له کورني محيط سره د اړيکو ساتل او پالل جلاوطنه خبرياﻻنو ته له مسلکي اړخه مهم دي، ځکه خبرياﻻن په فزيکي لحاظ د پېښو له جغرافيا لرې دي او دا فاصله او لرېوالی د هېوادميشتو خبرياﻻنو له لارې طی کيږي. له هغوی سره د روابطو پالل او له پخوانيو خبري سرچينو سره نږدې پاتې کېدل د جلاوطنه خبريالۍ راتلونکی تضمينولای شي.



له هېواده بهر خبريالان معمولاً پر هغو معلوماتو او اطلاعاتو تمرکز کوي، چې په کور دننه خبريالان يې د مختلفو بنديزونو او د اطلاعاتو د کنټرولي ويش او جريان له امله نه شي پوښلای. د خبري منځپانګو ارزښت له پېښو سره د خبريالانو په فزيکي نږديوالي کې نغښتی او څومره چې له پېښو سره د خبريال فزيکي واټن، سياسي چلند او له پېښو غير حضوري يا ددويم او دريم کس، په تېره ولسي روايت ډېرېږي، هومره د واقعيتونو روغ لېږد او د اطلاع او خبر رسونې پر بهير د خبريال تسلط کمزوری کېږي. دا چاره يو خوا د شايعاتو اوسخت پروپاګند (Hard propaganda) لامل کېږي او بل پلو د خبريال ژورنالستي هويت او د خبر رسونې دقيق انتقال او اعتبار اغېزمنوي. په دې توګه په دواړو کوربه او اصلي محيطونو کې مخاطبان او د رسنيو څارونکي دې ته ځير کوي چې د جلاوطنه خبريالانو له رپوټنګ او د محتوا له وېش سره محتاطانه چلند غوره کړي. دا د خبريالانو د مخاطبانو شمېرکچه اغېزمنوي او راښکون او د خبرونو او پيغامونو چټک لېږد او د شريکولو بهير کمزوری کوي.

د ناروې د  اېن اېل اي پوهنتون د رسنيزو څېړنو استاد (Terje S. Skjerdal) وايي، چې د ډېرو جلاوطنه خبريالانو په خبرو باور نه شي کېدای، يا په بله وينا، ډېر يې خبريالان نه دي. د هغه په باور، «ستونزه هغه وخت را ټوکيږي چې خبريالان خپل مسلکي عينيت شاته پرېږدي او [يوازې] لګيا وي».

رسنيزې ټکنالوژۍ د کډوالو او جلاوطنه خبريالانو لپاره د فرصتونو يوه نوې کړکۍ پرانستې ده. د زورواکو او مستبدو رژيمونو پر وړاندې د ټولنيزو شبکو او بېلابېلو پلاټفورمونو استعمال د سانسور او محتوا د کنټرول محدديتونه کم کړي، خو انفرادي توب پکې مخ پر غالب کېدو دی. دې ته زه د انفرادي (Individual journalism) يا همغه ښاروند خبريالۍ اصطلاح کاروم. انفرادي خبريالي په افرادو پورې محدوده ده او مسلکي پوهه، زده کړې، د ژورناليزم ارزښتونه، ارونه او معيارونه پکې کم، يا بيخي په پام کې نه نيول کېږي. هرکس د خپلو شخصي وړتياوو، امکاناتو او له خبري پېښو سره د لېواليتيا او نږدې والي له مخې خبري محتوا توليد او خپرولای شي. دا ډول خبريالي په جلاوطنۍ کې د شايعې او پروپاګند کچه لوړوي او د جلاوطنۍ د ژورناليزم او خبريالانو اصالت زيانمنوي خو که دا په شبکه يې خبريالۍ او د خبر د خپراوۍ پر يوه مشخص ادرس بدليږي، ارزښت او اعتبار يې خوندي کېږي.

په دې برخه کې د يو شمېر افغان خبريالانو هڅې پاموړ دي، ځکه د افغانستان له وضعيت نه د يوه نسبتا غوره او ناسانسوره تصوير درلودو لپاره يې نوي رسنيز او د خبريالانو د ملاتړ ادرسونه معرفي کړل. له افغانستان نه د خبريالانو له وتلو سره په بهرنيو هېوادونو کې نوې رسنۍ را وټوکېدې او ځينې پخوانۍ هغه په انلاين بڼه ژوندۍ پاتې شوې. دغه ګامونه کافي نه دي او نه هم ټول خبريالان تر پوښښ لاندې راوستلی شي، خو لږ ترلږه د ژورناليستانو ملاتړي بنسټونه کولای شي چې د اړيکو او همغږۍ يو ټولشموله شبکه يې رول ولوبوي.

## دکوربه هېوادونو سياستونه څه دي؟

د جرمني د بهرنيو چارو او فرهنګ وزارتونو د تېر کال په اکتوبر کې په ګډه د خبريالانو، رسنيزو کارپوهانو او د بيان ازادۍ د مدافعانو د ملاتړ لپاره يوه نوې پروژه (The Hannah Arendt



(Initiative) پرانیسته چې په جرمني او بهر کې د بیړنیو سکالرشیپونو او روزنیزو دورو، له لارې د خبریالانو د ملاتړ هڅه کوي. ددې پروژې له لارې چې (DW Akademie ) د اروپایي ټولنې د جلاوطنه خبریالی صندوق(JX Fund)، د اروپایي ټولنې د خپرونو او رسنیو د ازادی صندوق (ECPMF) او (MiCT) یې شریکان دي، د افغانستان، روسیې، بلاروس، اوکراین او ایران خبریالان او د رسنیو کارپوهان تر پوښښ لاندې راولي.

له دې وړاندې تېر کال کوربر شتیفتونګ د جلاوطنه خبریالانو ترمنځ د همغږۍ او اړیکو لپاره په هامبورګ کې کنفرانس جوړ کړی و، چې د افغان خبریالانو په ګډون پکې شاوخوا ۱۰۰ خبریالانو برخه اخستې وه. دغه راز دوی د جلاوطنه خبریالانو د مسلکي بوختونې لپاره ځینې پروژې هم لري، چې یو شمېر افغان او د نورو هېوادونو خبریالان پکې بوخت دي.

د جرمني دولت او اړوندو ادارو د افغان خبریالانو د خوندیتوب او انتقال له لومړني پړاو وروسته ځینې نور مرستندوی ګامونه هم اخستي، خو د محدود پوښښ له امله ډېر محسوس نه دي. تر ټولو مهمه مساله د خبریالانو، لیکوالو، د بشري حقونو د مدافعانو او د اکاډمیکو مراکزو د غړو کټګورایز او منسجم کول دي. په دې برخه کې ځینې لومړني او له تنګو او ترلو شرایطو سره مل ګامونه (د سیمینارونو، روزنیزوو ورکشاپونو او لنډمهالو سکالرشیپونو په اډانه کې) اخستل شوي، خو دا ټول په شرایطو برابر خبریالان تر پوښښ لاندې نه راولي. هغه خبریالان چې د خبریالانو د ټولنو له اډانې بهر د نورو ادارو په همکاری تخلیه شوي، د خبریالانو د ټولنو له چتر نه بهر دي. یا د بشري حقونو هغه فعالان، لیکوالان او د پوهنتونونو استادان چې د خبریالانو د ټولنو تر چتر لاندې تخلیه شوي، د بشري حقونو او جرمني د اکاډمیکو مراکزو په پروګرامونو کې نه ترسترګو کېږي.

سالم سروري (م. نوم)، چې د بشري حقونو تر مدافع ډېر خبریال او د بشري حقونو ګزارشګر پاتې شوی، د بشري حقونو د مدافعانو ترنامه لاندې تخلیه شوی، خو هغه د بشري حقونو اړوند پروګرامونو سره ډېر هوسا نه دی. د هغه په باور، اړوندو ادارو باید تخلیه شوي افغانان د هغوی مسلکي مخینې ته په پام په اړوندو کټګوریو کې ځای پرځای کړي وای او بیا یې د خپلو ملاتړو پروګرامونو تر پوښښ لاندې راوستي وای. دغه نه انسجام ددې لامل ګرځي، چې یوه ستره برخه د (The Hannah Arendt Initiative) په څېر له په پام کې نیول شویو لومړنیو بیړنیو اقداماتو بهر پاتې شي.

د جلاوطنی او کډوالۍ ژوند له صفره د سلو پر لور مزل دی. کډوال خبریالان او د نورو برخو ځانګوال په اروپایي چاپېریال او مارکېټ کې د ځای موندنې لپاره مشورتې، د ظرفیت جوړونې او کاري فرصتونو د موندنې لنډو روزنیزو دورو ته اړتیا لري. دغه دورې له دوی سره په نوي کاري محیط کې د ځای موندلو او مسلکي شبکه یې اړیکو په جوړولو کې مرستندویې تمامیدای شي. د خبریالانو، بشري حقونو د مدافعانو، لیکوالو او اکاډمیکو مراکزو د غړو انسجام د هغوی په صنفي ټولنو کې شونی دی. د اتحادیې تر چتر لاندې د افغان خبریالانو داخلي همغږي او د جرمني له اړوندو ارګانونو او مراجعو سره اړیکي دغه انسجام رامنځته کولای شي. دغسې انسجام د نورو هېوادونو په جلاوطنه خبریالانو کې محسوس او ګټور ثابت شوی. د روسیې او بلاروس خبریالان چې د واکمنو نظامونو سرسخته منتقدان دي، په جرمني او نورو اروپایي هېوادونو کې تر یوه ګډ چتر لاندې له نویو چاپېریالونو سره په مسلکي تعامل او همغږۍ د جلاوطنه رسنیو پر رامنځته کولو او پراخولو بریالي شوي. له دغو تجربو نه افغان خبریالان هم ګټه اخستلای شي.



# له کومه ځایه یې راپیل کړم!!!

سحرگل سحر

شپږ کاله به کیږي چې المان ته راغلی یم او شاوخوا څلور کاله به کیږي چې کار کوم، تېره میاشت اوسلینډر بیهورډه « د بهرنیو اتباعو اړوند اداره» راڅخه د آلماني ژبې د (A۲) سند غوښتنه وکړه او راته ویې ویل همدا سند راوړه چې درته یو کلنه قبولي درکړو، خو زه یې نه لرم، لومړی چې المان ته راغلم درس مې ونه وایه هسې یوخوا بل خوا راباندي ډېر وخت تېر شو او اوس همدا یو کار دی څم او راځم.

— ښه نو د ژبې کوم کورس خو دې ندی ویلی، کوم بل څه دې بغېر له کار کولو ترسره کړي ؟
— نه بل هم کوم داسې سند یا لاسته راوړنه نه لرم، بس همدا یو کار کوم.
—معاش دې څومره دی یعني په تېرو څلورو کلونو کې دې یو څه پانگه ځان ته جمع کړې؟
—نه، بس دومره دي چې همدلته خپل مصارف وکړم، د کور کرایه ورکړم او پاتې پیسې کورنۍ ته ولیږم.
دا خبرې څه وخت مخکې یو ملگري راته وکړې چې نورهیڅ نه پوهېده چې راتلونکي ته څه وکړی؟
موږ تر اتیا سلنه افغانان ، په خاص ډول پښتانه همداسې ناخبره ژوند کوو، بس همدا غټه لاسته راوړنه بولو چې ځان مې تر اروپا رارسولی بس خلاص، خو داسې نه ده.

موږ دلته نور ډېر کارونه ترسره کولی شو، د خپل خدای راکړي استعداد څخه که استفاده وکړو، ډېر ژر خپل ځان او کورنۍ په پښو درولی شو، ځکه چې دلته د هرڅه د ترسره کولو زمینه مساعده ده.

که غواړو لوړې زده کړې وکړو، که وغواړو کاروبار وکړو او یا هم یوه ښه دنده ولرو یعني هیڅ هم سخت ندي، که خپله پوهیدو خو ښه او که نه پوهیدو چې څه وکړو یا یې له کومه ځایه راپیل کړو بیا نورې لارې شته، د بېلگې په ډول المان کې د لارښوونې او مرستې اړوند ادارې شته، چې موږ ته لارښوونه کوي او یا هم دولت راسره په هره برخه کې مالي مرسته کوي، خو مهمه دا ده چې موږ یوڅه وکړو، لاس تر زنې کښېنو او هسې بې ځایه خپل وخت ضایع نه کړو.

هغسې خو ډېرې مختلفې لارې او کارونه شته چې د هرکس په ژوند پورې مربوط وي، یعنې خپل یو مسلک یې وي او غواړي هم په هغه مسلک کې نوره پوهه ترلاسه کړي او پرمختگ وکړي، خو زه دلته درته ځینې داسې لومړني مهم شیان په گوته کوم چې د هرچا لپاره او د هر مسلک لپاره مهم دي، چې کوم کس نوی المان ته راشي ورته مهم دي چې ترسره یې کړي او په ترسره کولو سره یې ډېرو نورو کارونو ته لاره خلاصیږي.

**لومړی:** ترهرڅه لومړی ژبه مهمه ده چې باید څه ناڅه زده شي، لږ ترلږه دومره زده شي چې د یوچا سره پوهاوی پرې ترسره شي، مثال د « B۱ » سند ترلاسه شي، چې بیا په قانوني مراحلو کښې هم په کار راځي او ژبه یې هم کافي ده.
دغه راز د « B۱ » د سند په لرلو سره کولای شئ اوسبیلډونگ (مسلکي زده کړې) وکړئ، یا هم د المان « سورپاسپورټ »تر لاسه کولو لپاره د دې سند درلودل ضروري دي او همداسې د ډېرو نورو کارونو لپاره ضروري دی، نو څومره چې ژر کیږي د همدې سند د ترلاسه کولو پورې باید ژبه زده کړل شي

**دویم:** په المان کې د موټر لایسنس ډېر مهم دی، زه ډېر کسان دلته پیژنم چې کلونه کلونه یې کیږي په المان کې ژوند



کوي، خو د موټر لایسنس نه لري، دوی ته دا یو لوی غر غوندې کار ښکاري، خو هیڅ سخت کار ندی، څکه ته کولای شي د ژبې یا کوم بل کورس یا کار ترڅنګ ، په خپل موبایل کې د لایسنس درسونه هم تعقیب کړې او چې هر وخت چمتو شوی کولای شئ امتحان ورکړئ.

د لایسنس په اخیستلو سره د ډیرو نورو کارونو دروازې هم درته خلاصیږي، هم به هوسا کار یا دنده ولرئ اوهم به دې تر عادي کار معاش لوړ وي ، نو چې څومره ژر کیږي، د موټر لایسنس باید واخیستل شي.

**دریم :** عامه پوهاوی؛ څومره چې ژر کیدای شي په آلمان کې د ژوند، کارونو، قانون او اصولو په اړه ځان پوه کړئ. د ( Einbürgerung Test ) په نوم کورس چې سند یې په راتلونکې کې د المان د پاسپورت په اخېستلو کې درسره مرسته کوي مهم دی، ښه ده چې دا هم ولوستل شي.

په دې کورس کې په آلمان کې د ژوند په اړه د ډیرو موضوعاتو او کارونو څخه خبریږئ، چې بیا ډېر ژر ځانته اهداف ټاکلی شئ،خپله تګلاره ټاکلی شئ او په آلمان کې ځان ډېر ژر راپورته کولای شئ.

**څلورم :** کار وکړئ، څومره چې ژر کیږي ځان ته سپین کار ولټوئ او کار شروع کړئ، په ډېری کسانو په لومړیو وختونو کښې ډېر وخت ،آن کال دوه درې هسې بې ځایه تېر شي، خو بیا وروسته پوه شي او بیا کار شروع کړي.

په لومړیو کې خلک داسې فکر کوي، چې بس همدا سوسیال او یا جاب سینټر هرڅه دي، خو داسې نده په کار کولو سره تاسې د سوسیال درې یا څلور برابره پیسې لاسته راوړلی شئ، عامه پوهاوی ترلاسه کولی شئ، ډېر ژر ژبه ېکې زده کولی شئ او داسې نور...

**پنځم :** لوړې زده کړې وکړئ، که په تعلیمي برخه کې کوم سند لرئ کولای شئ دلته یې د المان په اړوندو ادارو کې تایید کړئ، له شک پرته چې تاسې بیا پر دې اسنادو دلته ښه او مناسبه دنده ترلاسه کولای شئ او کولای شئ په هماغه برخه کې زده کړو ته دوام هم ورکړئ.

په دې اړه ډیر مالومات په (Handbook Germany) ویب پاڼه کې هم موندلی شئ او یا هم لکه مخکې مې چې وویل په خپله سیمه کې نږدې له کومکې ادارو سره په اړیکه کې کیدای شئ او په دې کار سره په راتلونکې کې یو ښه ژوند درلودلی شئ.

**شپږم :** اوسبیلډونګ ( چټکې زده کړې ) وکړئ، په آلمان کې هرکال په زرګونو کسان اوسبیلډونګ یا یو مسلک زده کوي او بیا په هغه برخه کې کار کوي، چې هم هوسا وي او هم یې پیسې تر عادي کارونو ډیرې وي، تاسې هم کولای شئ چې یو مسلک انتخاب او زده کړې پکې وکړئ.

په دې برخه کې هم لکه مخکې مې چې وویل د لارښوونې اړوند؛ د بېلګې په ډول Caritas, Diakonie او یا هم نورې ډیرې کومکې اداري شته، چې له بهرنیو وګړو سره په مختلفو برخو کې وړیا مرسته کوي، لار ورته ښیي او معلومات ورکوي.

همداسې ډېر نور مهم کارونه هم شته، چې ترسره شي او دلته یې یادونه وشي د دې ټولو یادونه ښایي په یوه ګڼه کې ونه شي، دا ځل مو درته د همدې څو مهمو کارونو سپارښتنه وکړه چې باید ورته پاملرنه وشي، په راتلونکې ګڼه کې به بیا نور همداسې مهم شیان چې موږ دلته په ژوند کې ورته اړتیا لرو او یا د هغو په ترسره کولو سره موږ یو ښه ژوند جوړولای شو درته په ګوته کړم.

# زه جرمني ته نوی راغلی یم، حیران یم چې څه وکړم؟



عبدالغني مستغني

جرمني یو له هغو هیوادونو څخه دی، چې پکې کڼ شمیر مرستندویه اداري او کلتوري او مذهبي ټولنې موجودې دي. سربېره پر یادو ادارو بیا هم یو افغان چې نوی جرمني ته راشي، سر درگمه او لار ورکی وي، نه پوهیږي چې څه وکړي تر څو د دې پرمخ تللي هیواد له امکاناتو څخه ښه گټه واخلي او په راتلونکي کې پښېمانه نه شي.

هغه لومړني فکرونه او باورونه ،چې جرمني ته د یوه تازه راغلي افغان ذهن ته راځي او یاهم دکورنۍ،چاپېریال او ملگرو لخوا پرې تحمیلیږي په لاندې ډول دي.

## لومړی ـــ تور کار:

لکه څرنگه چې زموږ د هیواد اقتصادي کچه ډېره ښکته ده، نو د کورنۍ لخوا فشار را وړل کیږي، ترڅو جرمني ته له را رسیدو وروسته سمدستي کار پیل کړئ، خو کورنۍ یې له دې خبره نه وي، چې په لومړیو کې له پیسو نه ډېر ارزښتمن، لوست او اړینې زده کړې دي،چې نه کول یې په راتلونکې کې ناممکن یا په لوړ لگښت او ډېره سخته ترسره کیږي.

اوس ممکن ځینې کډوال له ما وپوښتي چې زموږ اقتصادي کچه ډېره ښکته ده،نو مجبور یو چې تور کار ته لاس واچوو او ارزښتمن اړین لوستونه له لاسه ورکړو.

زه ورته په ځواب وایم چې ستا تر راتگ مخکې او په هغه یو کال کې چې تاسې په لاره کې وئ، ستاسو کورنۍ له خپل اقتصاد سره څه ډول چلند کاوه؟ او بله داچې تاسو کولای شئ چې د یو بل هیوادال او ملگري په همکارۍ ځانته یو آسانه او ښو ساعته کار پیدا کړئ.

## دویم ـــ د ژبې کورس:

ډېری نوي راغلي افغانان فکر کوي، چې آلماني ژبه لکه د فارسي یا ترکي ژبې په څیر په کاري چاپېریال کې زده کیږي، نو دوی د جرمني هیواد له لوري کډوالو ته د ژبې زده کړې لپاره له ځانگړو شویو کورسونو ډډه کوي.

خو خبر نه دي چې جرمني ژبه په کاري چاپېریال کې په لسو کلونو کې هم نه زده کیږي او په پایله کې دوی په راتلونکي

کې د تابعیت اخیستلو، لایسنس ترلاسه کولو او د ژوندانه په بېلابېلو چارو کې، له ستونزو سره مخامخ کیږي.

## دریيم - د زده کړو پرځای پیسو ته ترجیح ورکول:



هغه افغانان چې زده کړې یې نیمګړې پاتې شوې وي یا یې بشپړې کړې وي،جرمني ته له راتګ وروسته فکر کوي، چې عادي کار به ورته له زده کړو کول بهتره وي، ځکه له زده کړو وروسته او یاهم له زده کړو پرته یو شان معاش او پیسې لاسته لاوړي، خو هېڅکله هم داسې نه ده، ځکه موږ او تاسو پوهیږو چې اسلام هم وایي لوستي او نالوستي هېڅکله هم سره برابر نه دي، سربیره پر دې، خپلو زده کړو ته ادامه ورکول دا لاندې ګټې هم لري.

- **د نورو تر لاس لاندې مزدوری څخه خلاصون**

**د ژوندانه اړوند ستونزې او مشکلات په خپله حل کول:** لکه څرنګه چې جرمني یو لوستی هیواد دی، نو دلته هرڅه زده کړو او سواد ته اړتیا لري له ورځنی ټیکټ اخیستلو نیولې بیا تر تابعیت اخېستلو پوري ټولې چارې پر زده کړو پورې تړلې دي.

- **لږ کار لوړه تنخوا :** هغه تنخوا چې ته یې له زده کړو پرته په ۱۶ ساعته کار کې لاس ته لاوړې ، له زده کړو وروسته یې دوه چنده په اته ساعتو کې لاس ته راوړې.
- **له نورو کډوالو سره مرسته کول:** له زده کړو پرته به څرنګه وکولای شې، چې له نورو کډوالو سره مرسته وکړې، په داسې حال کې چې له زده کړو پرته ته د ښه عاید ترلاسه کولو لپاره باید ۱۶ ساعت کار وکړې، نو آیا په دې وخت کې ته خپل ځان او خپلې کورنۍ ته رسیده ګی کولای شې! نور خو پرځای پریږده.
- **خپل ورځنی عبادات په ښه توګه ترسره کول:** که څه هم په جرمنی کې پر عبادانو هیڅ ډول بندیز نشته او هر څوک کولای شي چې خپل عبادات په خپله خوښه، په هر وخت او په هر ځای کې ترسره کړي. خو اوس پوښتنه داده چې، آیا تاسې د کار په اوږدو کې خپل ورځني عبادات ترسره کولای شئ او کنه؟ معلومه ده چې نه یې شئ ترسره کولای،ځکه کیدای شي چې تاسې د خپل ګمارونکي (رییس) له خوا په یوه او بله بهانه له کاره ګوښه شئ، خو که چیرې تاسې مسلکي یا اکاډمیکې زده کړې ولرئ، نو تاسې پخپله د خپل ځان رییس یاست.

## څلورم ـــ ناسمه پرتله :

ځینې افغانان چې جرمني ته راشي، نو هره ناوړه کړنه ترسره کوي او وایي دا خو څه افغانستان نه دی، دا جرمني دی، خو همدغه کړنې یې له یو څه مودې وروسته ده ته لوی سرخوږی جوړولای شي.

## پنځم : «چیرته چې اوسې، په خوی به د هغو شې» :

که څه هم د پښتو ژبې دا لرغونی متل دکاني کرښه ده، خو له بده مرغه دا متل په جرمني کې د پلي کیدو وړنه دی،ځکه د

جرمني فرهنګ، دين او کلتوري عادتونه، تر يوه بريده د افغاني او اسلامي کلتور خلاف دي.

نو موږ بايد هڅه وکړو چې خپل اسلامي او افغاني کلتوري عادتونه تر يوه حده خوندي وساتو، کنه پايلې به يې ښې نه وي .دا چې دا وضعيت څه ډول لنډ مهاله او اوږد مهاله ناوړه پايلې لري،په راتلونکې ګڼه کې به يې واضح کړو.

البته زما د خبرو موخه دا نه ده، چې تاسې د جرمني کلتور، فرهنګ او دين ته سپکاوی وکړئ او ورته درناوی مه کوئ، بلکې په خپل شخصي ژوند، د افغانانو ترمنځ او په کورني چاپېريال کې بايد خپل اسلامي او افغاني کلتوري دودونه خوندي وساتو.

## شپږم ـــــ پر خپل هيواد او خپلو وکړو پسې ناوړه ويل:

ځيني افغانان په دې اند دي، چې که موږ پر خپلو هيوادوالو او هيواد پسې بد رد و وايو ،نو زموږ د قبولې چانس به لوړ شي، خو داسې نه ده، بلکې برعکس په دې کار خپل ځان ته زيان رسوئ او خپل قدر په اړوندو ادارو او دولت کې راښکته کوئ.

که فرض کړو چې زموږ هيواد او د هيواد وکړي سم نه دي، نو آيا د خپل هيواد او د خپلو هيوادوالو منفي ټکي يو بهرني ته ويل، ښه کار دی؟

## نو زه بايد جرمني ته له راتګ وروسته څه وکړم؟

په پردي هيواد کې ژوند کول له ستونزو او مشکلاتو ډک وي او دي، نو بايد موږ دا ستونزې او مشکلات وزغمو.

معمولاً هغه افغانان چې په رسمي توګه جرمني ته راځي، نو ښه ده چې لاندې ټکي په پام کې ونيسي.

افغانانو ته د ژبې کورس اجازه يا دکورس لپاره د پيسو تمويل لږ تر لږه څلور مياشتې وخت نيسي،نو زما وړانديز دادی، چې تاسې په دې وخت کې له ځان سره په يوتيوب کې د آلماني ژبې زده کړه پيل کړئ او د دې ترڅنګ ، د کمپيوټر اړينې زده کړې وکړئ او د خپلو اسنادو ژباړه او رسمي کول پيل کړئ.

له څه مودې ورسته تاسې ته د ژبې کورس لپاره اجازه ليک راځي،نو زما د خپلې تجربې پر بنسټ، که چيرې تاسې په همدغه څلورو مياشتو کې هم د خپل وس سره سم، زيار او کوښښ وکړئ، نو وروسته له شپږو مياشتو تاسې کولای شئ چې خپلې ستونزې او مشکلات په خپله حل کړئ او همدارنګه د کار کولو وړتيا هم د ژبې په برخه کې ترلاسه کولای شئ.



د دې لپاره چې تاسې په جرمني کې له سترس، خپګان او اضطراب څخه ځان وژغورئ، نو غوره بولم چې تاسې ته ووايم،د لمانځه او نوروا سلامي عباداتو لپاره يو منظم مهالويش وټاکئ.



# د موټر چلولو لایسنس

## څنګه کولای شم په جرمني کې موټر وچلوم؟

په خپلواک ډول او آسانۍ هر ځای ته تګ ژوند آسانوي او د دندې په پیدا کولو کې اغېزناک دي. که په داسې لرې پرته سیمه اوسئ چې د ټرېن او بس په شان عمومي ترانسپورتي وسایل ونه لري؛ ښایي د موټر چلولو لېسنس ته اړتیا ولرئ. دلته به د جرمني د لېسنس، د خپل هېواد د لېسنس د بدلولو او د لېسنس د ورکېدلو د مخنیوي د لارو چارو په اړه ډېر مالومات ولولئ.

## آیا زه په جرمني کې د ډرېورۍ اجازه لرم؟

په جرمني کې د موټر چلولو لپاره د اصولو له مخې د جرمني یا اروپایي ټولنې د کوم بل غړي هېواد د ډرېورۍ لایسنس ته اړتیا ده. له دې پرته د درېیمو هېوادونو لایسنس په جرمني کې له ثبت وروسته یوازې د شپږو میاشتو لپاره معتبر دی. دا موده په جرمني کې ستاسې له لومړي ځل ثبتېدلو وروسته پیل کېږي او کولای شئ د لومړیو شپږو میاشتو لپاره د خپل هېواد په لایسنس موټر وچلوئ. په یاد مو وي چې د موټر چلولو پر مهال باید تل خپل لایسنس او د هغه ژباړل شوې کاپي له ځان سره ولرئ. دا کاپي باید د یوه معتبر جرمني یا بین‌المللي کلب، ستاسې په هېواد کې د یوې معتبرې سرچینې او یا باوري او تایید شوي ژباړونکي له لوري ژباړل شوی وي. یو باوري ژباړن پر (bdue.de) وېبسایټ موندلای شئ. د لاندې هېوادونو د لایسنس ژباړلو ته اړتیا نشته: ایسلنډ، لیښتن‌شتاین، ناروې، اندورا، هانک کانګ، موناکو، نوی زیلند، سان مارینو، سویس او سنېګال. همدا شان د بین‌المللي لایسنس ژباړلو ته اړتیا نشته.

له یادو شوو شپږ میاشتو وروسته باید خپل لایسنس په جرمني معادل لایسنس بدل (Umschreibung) کړئ. د جرمني په

لاېسنس د بل هېواد د لاېسنس بدلولو شرایط د هر هېواد لپاره توپير کوي.

که جرمني ته يوازې د ليدو لپاره راځئ؛ کولای شئ د خپل هېواد په لايسنس ډرېوري وکړئ. البته هغه کسان چې د جرمني له قانون سره سم د موټر چلولو عمر ته نه وي رسېدلي؛ دا اجازه نه لري. د خپل لاينسس د اعتبار او نورو ورته موضوعاتو په اړه د ترانسپورت او ډيجيتل زېربنا فدرالي وزارت پر وېبسایټ ډېر مالومات موندلای شئ.

يادونه: د پناغوښتنې د پروسې پر مهال مو د لايسنس په ګډون ټول سندونه له بمف سره پاته کيږي. دا سندونه هغه وخت ترلاسه کولای شئ چې د پنا غوښتنې پروسه مو بشپړه شي. په دې موده کې له لايسنس پرته د موټر چلولو اجازه نه لرئ.

## څنګه کولای شم خپل لايسنس په جرمني لايسنس بدل کړم؟

د تبديلۍ د پروسې د پيل لپاره بايد د ډرېورۍ د لېسنس له سيمه‌ييزې اداري „Fahrerlaubnisbehörde) يا Führerscheinstelle“) غوښتنه وکړئ. د غوښتنليکونو شمېر او سيمې ته په کتو ښايي د دې اداري ځواب يو څه وخت ونيسي. د دې کار لپاره د شپږو مياشتو مودې له ختمېدو وړاندې ګام پورته کړئ څو بې‌لېسنسه پاته نه شئ. تاسې کولای شئ د لاېسنس ټولې اداري په انلاين ډول دلته ومومئ. د لېسنس د بدلولو لپاره بايد په خپله له دې ادارو يوې ته ورشئ او اړوند سندونه له ځان سره يوسئ. دا اداره بيا وروسته پرېکړه کوي چې ستاسې لايسنس له ازموينې پرته بدل کړي او که عملي يا نظري ازموينې يا دواړو ته اړتيا ده. په يوولسمه ضميمه کې د لست شوو هېوادونو لايسنس په عمومي ډول له ازموينې پرته بدليږي. د افغانستان او نورو ګڼو هېوادونو د لاېسنس درلودونکي بايد د لېسنس د بدلولو لپاره ازموينه ورکړي. له نظري ازموينې وړاندې بايد د ډرېورۍ په يوه رسمي ښوونځي (Fahrschule) کې ځان ثبت کړئ. د عملي تمرين لپاره د ډرېورۍ په ښوونځي کې ګډون جبري نه دی خو ښه به وي چې له ازموينې مخکې د تياري لپاره د څو ساعتونو لپاره د د ښوونځيو ښوونکو تر نظر لاندې موټر وچلول شي.

## د لېسنس د بدلولو لپاره کومو اسنادو ته اړتيا ده؟

- د لېسنس بدلولو له غوښتنې سره بايد لاندې سندونه هم يوځای وړاندې شي:
- د پېژندنې کارت يا پاسپورت؛
- په جرمني کې د ثبتېدلو (Anmeldung) تاييدليک؛
- د پاسپورت اندازه بايومتريک عکس (biometrisches Passbild)؛
- د سترګو يا ليد ازموينه (Sehtest) چې د سترګو يوه رسمي ډاکټر له لوري ترسره شوې وي؛
- د لومړنيو طبي مرستو په کورس کې د ګډون سند. په خپل شاوخوا کې

د لومړنیو مرستو یو کورس پر (ASB) یا (Johannitern) وېبسایټونو موندلای شئ.

- د خپل اصلي هېواد لایسنس چې باید په جرمني ژبه ژباړل شوی وي. ځینې وخت ښایي ژباړه ونه غوښتل شي؛
  - د خپل اصلي لایسنس د اعتبار د وخت په اړه لیکل شوې روښانتیا.

که غواړئ له A (موټرسایکل) او B (موټر) پرته د نورو ډلبندیو لېسنس ترلاسه کړئ؛ باید ځینې نور شرایط هم پوره کړئ. د دې شرایطو د کتلو لپاره د ترانسپورت فدرالي وزارت پر وېبسایټ لا ډېر مالومات وموموئ.

## څنګه کولای شم د جرمني د ډرېورۍ لایسنس ترلاسه کړم؟

که غواړئ په لومړي ځل د موټر چلولو لاېسنس ترلاسه کړئ؛ باید لاندې کارونه ترسره کړئ:

- د ډرېورۍ په کورسونو (Fahrschule) کې ګډون. په لویو ښارونو کې په جرمني او انګلیسي سربېره په ځینو نورو ژبو هم دا کورسونه موندلای شئ. په خپل شاوخوا کې د ډرېورۍ یو کورس پر (drivolino.de) یا (.fahrschulen de) وېبسایټ موندلای شئ.
- د لومړنیو طبي مرستو په کورس کې ګډون. د ډرېورۍ ځینې کورسونه د طبي مرستو کورس هم له ځان سره لري. له دې پرته پر (ASB) یا (Johannitern) وېبسایټونو هم د لومړنیو طبي یا روغتیايي مرستو کورسونه موندلای شئ.
- د سترګو یا لید ازموینه (Sehtest) چې د سترګو یوه رسمي ډاکټر له لوري ترسره شوې وي. دا ازموینه شاوخوا ۷ یورو لګښت لري د عینکو په ځینې پلورنځیو کې وړیا هم ترسره کیږي.
  - د پاسپورت اندازه بایومتریک عکس (biometrisches Passbild) اخستل.

د ډرېورۍ په کورسونو کې نظري کورسونه او د موټر چلولو عملي تمرین درکول کیږي. له ډاډمن کېدلو وروسته کولای شئ لومړی نظري او وروسته عملي ازموینه ورکړئ او لایسنس ترلاسه کړئ.

که غواړئ د C (لارۍ) یا D (بسونو) یا نورو ډلبندیو اړوند لېسنس ترلاسه کړئ؛ باید ځینې نور شرایط هم پوره کړئ. د ترانسپورت وزارت پر وېبسایټ د دې لېسنس د ډولونو په اړه په انګلیسي ژبه د مالوماتو لنډیز موندلای شئ.

**یادونه:** د دولدونګ او یا لنډمهالي اوسوایس (Aufenthaltsgestattung) درلودونکي هم د لېسنس ترلاسه کولو اجازه لري.

## د لېسنس ترلاسه کولو څومره لګښت لري؟

د جرمني د لېسنس ترلاسه کولو لپاره بېلابېلو لګښتونو ته اړتیا ده. د بېلګې په ډول د ډرېورۍ د زدکړې درسونه، د زدکړې کتابونه، روغتیایي ازموینې او د نظري او عملي ازموینو لګښتونه. د زدکړو لګښتونه ستاسې له وړتیاوو سره اړه لري خو په ټوله پروسه ښایي له زر تر ۳ زره یورو پورې لګښت راشي.

د ډرېورۍ د زدکړې بیې په هر ښار او د زدکړې په کورسونو کې توپیر کوي. د نویو پیل کوونکو لپاره د لویو لارو، شپې او اطرافي سیمو د ډرېورۍ درسونه ضروري دي. دا چې تاسې څومره زدکړو ته اړتیا لرئ؛ ستاسې لاربنود استاد پرېکړه کوي. څو لاربنود ستاسې

د ډرېورۍ د مهارتونو له خونديتوبه راضي شوی نه وي؛ د ازموينې ورکولو لپاره ځانونه نه شئ ثبتولای. د ډرېورۍ د درسونو د بيو په پرتله د عملي او نظري ازموينو لګښتونه ډېر کم دي. د نظري ازموينې لګښت شاوخوا ۲۵ يورو او د عملي هغې بيا شاوخوا ۱۲۰ يورو دی.

يادونه: که بېکاره ياست؛ د لايسنس په ترلاسه کولو سره کولای شئ د کار په مارکېټ کې خپل چانس لوړ کړئ او له جاب‌سنټر څخه د لايسنس د لګښتونو ترلاسه کولو غوښتنه وکړئ. په دې اړه په جاب‌سنټر کې له خپل اړوند مامور سره خبرې وکړئ.

## څنګه کولای شم نظري يا تيوري ازموينه ورکړم؟

د جرمني د لېسنس ترلاسه کولو لپاره د ازموينه يوه برخه نظري ده. دا ازموينه د عملي ازموينې له اخستلو وړاندې کيږي. نظري يا تيوري ازموينه په جرمني، انګليسي، فرانسوي، يوناني، اېټالوي، پولنډي، پرتګالي، رومانيايي، روسي، کرواسيايي، هسپانوي، ترکي او عربي (په ځينو ايالتونو کې) ژبو ورکولای شئ. دا ازموينه ۳۰ څوځوابه پوښتنې لري. شايي يوه پوښتنه څو سم ځوابونه ولري او هره پوښتنه بېلابېلې نمرې لري. هغه کسان چې له يوولس زياتې غلطې نمرې ولري، ناکام ګڼل کيږي.

د نظري ازموينې د ترسره کولو لپاره لاندې سندونو ته اړتيا لرئ:

- د پېژندنې کارت يا پاسپورت؛
- د ازموينې لپاره د اخستل شوي وخت د تاييد ليک؛
- د ډرېورۍ په کورس يا ښوونځي کې د ګډون برۍ‌ليک (که پخوا مو د ډرېورۍ سند نه درلود).

د نظري ازموينې پايله يو کال اعتبار لري. که د دې ازموينې له ترسره کولو وروسته د يوه کال په اوږدو کې لېسنس ترلاسه نه کړئ؛ د لېسنس ترلاسه کولو لپاره بايد بيا دا ازموينه ترسره کړئ. دې ازموينې ته د تيارۍ لپاره د www. lehrboegen.de او www.fuehrerschein-bestehen.de ويبسايټونه وګورئ. دا ويبسايټونه په څو ژبو د ډرېورۍ د نظري ازموينې تمرينونه وړاندې کوي. همدا شان ځينې انلاين اپلېکشنونه هم کارولای شئ. ځينې اپلېکشونه وړيا دي خو ځينې نور بايد په پيسو واخلئ. په دې اړه کولای شئ د ډرېورۍ د کورس له استاد سره مشوره وکړئ.



## د ډرېورۍ عملي ازموينه څه ډول ورکړم؟

که د موټر چلونې په نظري ازموينه کې بريالي شئ، کولای شئ عملي ازموينه هم ترسره کړئ. د دې کار لپاره بايد له ۵۰ تر ۶۰ دقيقو پورې په دوران کې د خپلې ډرېورۍ وړتيا ثابته کړئ. په معمول ډول ازموينکی د موټر د شا په سيټ کې کښيني او ستاسې د ډرېورۍ مهارتونه د خونديتوب او لياقت له مخې ارزوي. ستاسې د ډرېورۍ د ښوونځي ښوونکی به ستاسې تر څنګ ناست وي او په بېړنيو وختونو کې د موټر کنټرول په لاس کې اخلي. که په لومړي ځل په دې ازموينه کې بريالي نه شئ؛ کولای شئ دوې اونۍ وروسته يې بيا تکرار کړئ. د ناکامۍ په صورت کې به اړوند کس ستاسې غلطۍ درته په ګوته کړي څو د بل ځل لپاره تيار شئ. د دې ازموينو د تکرار د شمېرو په اړه کوم ټاکلی حد نشته.

## که چا الکول څښلي وي، د موټر یا موټرسایکل چلولو اجازه لري؟

د ډرېورۍ پر مهال لږ الکول څښل هم خطرناک دي. حتا که ګنګس هم نه یاست، د ټکر ګواښ زیاتیږي. له همدې کبله د موټر، موټرسایکل یا رولر چلوونکو لپاره د الکول څښلو د مقدار په اړه ځانګړي قوانین شته. پولیس کولای شي د ځانګړو وسیلو په مرسته د څښل شوو الکولو مقدار مالوم کړي. دا اندازه د هر کس په وینه کې د ملي لیتر په کچه څرګندیږي.

- هغه کسان چې د لایسنس اخستلو یې لا دوه کاله نه وي پوره شوي او په ازمویښتي دوره (Probezeit) کې وي او یا یې عمر له ۲۱ کالونو کم وي، د چلولو پر مهال د الکولو څښلو اجازه نه لري. که څوک سرغړونه وکړي، ازمویښتي دوره یې اوږدیږي. له دې پرته دوی باید لږ تر لږه ۲۵۰ یورو جریمه ورکړي، یو د جریمي پاینټ ترلاسه کوي او همدا شان باید له سره د ډرېورۍ اساسات زده کړي.
- له دې پرته نور کسان کولای شي یوه کمه اندازه الکول وڅښي او موټر یا موټرسایکل وچلوي. البته په هر ملي لیټر کې له ۰٫۵ سلنې د زیاتو الکولو څښلو اجازه نشته. سرغړوونکي تر ۱۵سوه یورو پورې جریمه کیږي او د یوې ټاکلې مودې لپاره لایسنس له لاسه ورکوي. که څوک په نشه کې ټکر وکړي او یا خطرناکه یا ناسمه ډرېوري وکړي، کېدای شي په ۰٫۳ په ملي لیټر کې هم جریمه شي او یا زندان ته ولاړ شي. همدا شان لایسنس د یوې مودې لپاره له لاسه ورکوي او څو پاینټونه اخلي.

**یادونه:** که څوک په نشه کې بایسکل وچلوي او ټکر وکړي یا بل چا ته ګواښ شي، جریمه کیږي. د دې تر څنګ دا کسان د خپل موټر یا موټرسایکل چلولو لایسنس هم له لاسه ورکوي.



## په کومو حالاتو کې د لېسنس د بایللو شونتیا ده؟

په جرمني کې د ډرېورۍ له قوانینو سرغړونه نغدي جریمه او سزا لري. په ځینو حالاتو کې ښایي خپل لایسنس له لاسه ورکړئ او یا یې اعتبار ختم شي. د ځینو خطاوو لپاره ستاسې لایسنس د یوې محدودې مودې (په معمول ډول یوه میاشت) لپاره اخستل کیږي او په دې موده کې د موټر چلولو اجازه نه لرئ. دې سزا او مودې ته (Fahrverbot) وايي او له هغه وروسته لایسنس بېرته ترلاسه کولای او موټر چلولای شئ. په ځینو نورو حالتونو کې ښایي ستاسې لایسنس بې‌اعتباره وګڼل شي (Entzug Entzug) او تر یوې ټاکلې مودې (Sperrfrist) پورې د بل لایسنس اخستلو او موټر چلولو اجازه هم نه لرئ. دا سزا هغه وخت ورکول کیږي چې نورو وسیلو ته ګواښ پېښ کړئ؛ په نشه کې موټر وچلوئ او یا د جریمې ۸ پاینټونه واخلئ. د جریمې پاینټونو ته (Punkte in Flensburg) وايي او اړوندې ادارې ته یې (Fahreignungsregister – FAER.) وايي.

هرې خطا ته په کتو له (Verwarngel یا Bußgeld) نیولې د لېسنس تر له لاسه ورکولو (Führerscheinentzug) پورې جزا ټاکل شوې ده.

که له موټر چلولو وړاندې د الکولو څښلو د نشې له کبله په خپله لېسنس ورک کړئ؛ باید ځینې روغتیایي او رواني ازموینې (Medizinisch-Psychologische Untersuchung) ترسره کړئ چې په عامیانه ژبه (Idiotentest) ازموینه بلل کیږي. په دې اړه نور مالومات د TÜV Süd او Dekra پر وېبسایټونو ولولئ.

یادونه: که لایسنس مو نوی ترلاسه کړی وي؛ دوه کاله په ازموېښتي دوره کې یاست. که په دې دوره کې له ترافیکي قوانینو سرغړونه وکړئ؛ ښایي په اضافي تمرینونو کې ګډون ته اړ شئ او یا د ارواپوهنې د مشورو سپارښتنه درته وشي. د دې تر څنګ ستاسې ازموېښتي دوره (Probezeit) دوه کاله نوره هم اوږدېږي. که په اضافي تمرینونو یا د ارواپوهنې په مشورو کې ګډون ونه کړئ؛ ښایي لایسنس مو درنه واخستل شي. د دې ډول سرغړونو بېلګې له سرو څراغونو تېرېدل، په شپه کې له څراغونو پرته موټر چلول او یا په نشه کې ډرایوري ده. غلط پارک کول په دې سرغړونو کې نه راځي او یوازې نغدي جریمه یې اخستل کیږي.

## د جاب‌سنټر په پیسو موټر اخستلای شم؟

که له جاب‌سنټر څخه پیسې ترلاسه کوئ؛ په منظم ډول به د خپل اړونده جایداد او شتمنۍ په اړه ویوښتل شئ. دا خبره د موټر په اړه هم صدق کوي. که موټر مو له ۷,۵۰۰ یورو کم ارزښت لري؛ څه خبره نشته. که له دې قیمته موټر ولرئ؛ ښایي جاب‌سنټر غوښتنه وکړي چې لومړی موټر خرڅ کړئ او په پیسو یې ژوند وکړئ؛ وروسته بیا راشئ او د جاب‌سنټر د پیسو غوښتنه وکړئ.

یادونه: که د یوه کار ترلاسه کولو یا ساتلو لپاره موټر ضروري وي، جاب‌سنټر یې په اخستلو کې مرسته کوي. په دې اړه هلته له خپل اړوند مامور سره خبرې وکړئ.

### مهم

که لایسنس ولرئ او د بایسکل چلولو پر مهال ترانسپورتي وسایلو ته خطر پېښ کړئ؛ د بېلګې په ډول په نشه کې بایسکل چلول وکړئ؛ ښایي د موټر چلولو لایسنس مو له لاسه ورکړئ. په دې اړه نور مالومات زموږ په بل څپرکي (بایسکل چلول) کې لوستلای شئ.

*سرچینه: هنډبوک جرمني*



# د تابعیت ازموینه

# Einbürgerungstest



## په آلمان کې د ژوند کولو او د تابعیت اخیستلو لپاره

## In deutschland die Staatsbürgerschaft zu leben und erwerben

## د آلمان اصول او قوانین

## Deutsche Grundsätze und Gesetze

Frage# 1 von 300

**In Deutschland dürfen Menschen offen etwas gegen die Regierung sagen, weil …**

- hier Religionsfreiheit gilt.
- die Menschen Steuern zahlen.
- die Menschen das Wahlrecht haben.
- ✓ hier Meinungsfreiheit gilt.

له ۳۰۰ پوښتنو ۱ ښخه

**په آلمان کې خلکو ته اجازه ورکول کیږي چې په ښکاره د حکومت پر ضد څه ووايي ځکه چې...**

- دلته د مذهب آزادي پلي کیږي.
- خلک مالیه ورکوي.
- خلک د رایې ورکولو حق لري.
- ✓ دلته د بیان آزادي پلي کیږي.

Frage# 2 von 300

**In Deutschland können Eltern bis zum 14. Lebensjahr ihres Kindes entscheiden, ob es in der Schule am**

- Geschichtsunterricht teilnimmt.
- ✓ Religionsunterricht teilnimmt.
- Politikunterricht teilnimmt.
- Sprachunterricht teilnimmt.

له ۳۰۰ پوښتنو ۲ ښخه

**په کومو ټولګیو کې والدین د خپل ماشوم په هلکه تر ۱۴ کلنۍ پورې پریکړه کوالای شي؟**

- د تاریخ په ټولګیو کې ګډون.
- ✓ په دیني زده کړو کې برخه اخیستل.
- په سیاسي ټولګیو کې برخه اخیستل.
- د ژبې په ټولګیو کې برخه اخیستل.

Frage# 3 von 300

**Deutschland ist ein Rechtsstaat. Was ist damit gemeint?**

- ✓ Alle Einwohner / Einwohnerinnen und der Staat müssen sich an die Gesetze halten.
- Der Staat muss sich nicht an die Gesetze halten.
- Nur Deutsche müssen die Gesetze befolgen.
- Die Gerichte machen die Gesetze

له ۳۰۰ پوښتنو ۳ ښخه

**آلمان یو قانون لرونکی هیواد دی، له دې نه څه مطلب ده؟**

- ✓ ټول اوسیدونکي او دولت باید د قانون اطاعت وکړي.
- دولت اړ نه دی چې قانون ومني.
- یوازې آلمانان باید د قانون اطاعت وکړي.
- محکمې قانون جوړوي

Frage# 4 von 300

**Welches Recht gehört zu den Grundrechten in Deutschland?**

- Waffenbesitz
- Faustrecht
- ✓ Meinungsfreiheit
- Selbstjustiz

له ۳۰۰ پوښتنو ۴ ښخه

**په آلمان کوم یو له بنسټیزو حقونو څخه شمیرل کیږي؟**

- د ټوپک ملکیت
- د ځنګل قانون یا د زور قانون
- ✓ د ازادي بیان
- هوښیارتیا

Frage# 5 von 300

## Wahlen in Deutschland sind frei. Was bedeutet das?

- Man darf Geld annehmen, wenn man dafür einen bestimmten Kandidaten / eine bestimmte Kandidatin wählt.
- ✓ Der Wähler darf bei der Wahl weder beeinflusst noch zu einer Stimmabgabe gezwungen werden und keine Nachteile durch die Wahl haben.
- Nur Personen, die noch nie im Gefängnis waren, dürfen wählen.
- Alle wahlberechtigten Personen müssen wählen.

له ۳۰۰ څخه ۵ پوښتنه

## په آلمان کې د ټاکنو ازادي څه معنا لري؟

- پیسو په مقابل کې یو ځانګړي نوماند ته رایه ورکول جواز لري.
- ✓ رایه ورکوونکی باید د ټاکنو په جریان کې تر اغیزې لاندې رانه شي، یا د یوې ځانګړې رایې ورکولو لپاره مجبور نه شي، او د ټاکنو په پایله کې هیڅ ډول زیان ورته پیښ نه شي.
- هغه وګړي چې لاتراوسه زندان ته تللي نه وي، د رایې ورکولو حق لري.
- ټول وړ رایې ورکوونکي باید رایه ورکړي.

Frage# 6 von 300

## Wie heißt die deutsche Verfassung?

- Volksgesetz
- Bundesgesetz
- Deutsches Gesetz
- ✓ Grundgesetz

له ۳۰۰ څخه ٦ پوښتنه

## د آلمان اساسي قانون څه نومیږي؟

- د خلکو قانون
- فدرالي قانون
- د آلمان قانون
- ✓ اساسي قانون

Frage# 7 von 300

## Welches Recht gehört zu den Grundrechten, die nach der deutschen Verfassung garantiert werden? Das Recht auf …

- ✓ Glaubens- und Gewissensfreiheit
- Unterhaltung
- Arbeit
- Wohnung

له ۳۰۰ څخه ۷ پوښتنه

## کوم بنسټیز حق د آلمان د اساسي قانون لخوا تضمین شوی دی؟

- ✓ د باور او وجدان ازادي
- تفریح
- کار
- اپارتمان

Frage# 8 von 300

## Was steht nicht im Grundgesetz von Deutschland?

- Die Würde des Menschen ist unantastbar.
- ✓ Alle sollen gleich viel Geld haben.
- Jeder Mensch darf seine Meinung sagen.
- Alle sind vor dem Gesetz gleich.

له ۳۰۰ څخه ۸ پوښتنه

## د آلمان په اساسي قانون کې څه نشته؟

- د انسان وقار د پام وړ دی.
- ✓ هرڅوک باید ورته پیسې ولري.
- هرڅوک اجازه لري چې خپل نظر بیان کړي.
- ټول د قانون په وړاندې برابر دي.

Frage# 9 von 300

## Welches Grundrecht gilt in Deutschland nur für Ausländer / Ausländerinnen? Das Grundrecht auf …

- Schutz der Familie
- Menschenwürde
- ✓ Asyl
- Meinungsfreiheit

له ۳۰۰ څخه ۹ پوښتنه

## په آلمان کې کوم اساسي حق یوازې په بهرنیانو باندې پلي کیږي؟

- د کورنۍ ساتنه
- انساني کرامت
- ✓ پناه
- د بیان ازادي

Frage# 10 von 300

## Was ist mit dem deutschen Grundgesetz vereinbar?

- Die prügelstrafe
- Die folter
- Die todesstrafe
- ✓ Die geldstrafe

له ۳۰۰ څخه ۱۰ پوښتنه

## د آلمان له اساسي قانون سره څه مطابقت لري؟

- وهل
- شکنجه
- د مرګ سزا
- ✓ نقدي جریمه

Frage# 11 von 300

## Wie Wird Die Verfassung Der Bundesrepublik Deutschland Genannt?

- ✓ Grundgesetz
- Bundesverfassung
- Gesetzbuch
- Verfassungsvertrag

له ۳۰۰ څخه ۱۱ پوښتنه

## د آلمان اساسي قانون څه نومیږي؟

- ✓ اساسي قانون
- فدرالي اساسي قانون
- د کتاب قانون
- د اساسي قانون تړون

Frage# 12 von 300

## Eine Partei im Deutschen Bundestag will die Pressefreiheit abschaffen. Ist das möglich?

- Ja, wenn mehr als die Hälfte der Abgeordneten im Bundestag dafür sind.
- Ja, aber dazu müssen zwei Drittel der Abgeordneten im Bundestag dafür sein.
- ✓ Nein, denn die Pressefreiheit ist ein Grundrecht. Sie kann nicht abgeschafft werden.
- Nein, denn nur der Bundesrat kann die Pressefreiheit abschaffen.

له ۳۰۰ څخه ۱۲ پوښتنه

## د آلمان په بندستګ کې یو ګوند غواړي چې د مطبوعاتو ازادي لغوه کړي. ایا دا ممکنه ده؟

- هو، که د بوندستاګ له نیمایي څخه زیات غړي د هغه په طرف وي.
- هو، مګر د بوندستاګ د غړو دوه پر دریمه برخه باید د ده په طرف وي.
- ✓ نه، ځکه چې د مطبوعاتو ازادي یو اساسي حق دی. دا نشي لغوه کیدی.
- نه، ځکه چې یوازې فدرالي شورا کولی شي د مطبوعاتو ازادي لغوه کړي.

Frage# 13 von 300

**Im Parlament steht der Begriff „Opposition“ für…**

- Die regierenden parteien.
- ✓ Alle abgeordneten, die nicht zu der regierungspartei/den regierungsparteien gehören.
- Die fraktion mit den meisten abgeordneten.
- Alle parteien, die bei der letzten wahl die -%5hürde erreichen konnten.

له ۳۰۰ پوښتنه ۱۳ څخه

**په پارلمان کې، د «اپوزیسیون» اصطلاح د څه لپاره کارول کیږي؟**

- واکمن گوندونه
- ✓ ټول وکیلان چې د واکمن گوند/گوندونو سره تړاو نلري.
- هغه ډله چې ډیری وکیلان لري.
- ټول هغه گوندونه چې وتوانیدل په تیرو ټاکنو کې ۵٪ خنډ ته ورسیږي.

Frage# 14 von 300

**Meinungsfreiheit in Deutschland heißt, dass ich ...**

- Auf Flugblättern Falsche Tatsachen Behaupten Darf.
- ✓ Meine Meinung In Leserbriefen Äußern Kann.
- Nazi-symbole Tragen Darf.
- Meine Meinung Sagen Darf, Solange Ich Der Regierung Nicht Widerspreche.

له ۳۰۰ پوښتنه ۱۴ څخه

**په آلمان کې د بیان ازادي په دې معنی ده چې زه ...**

- کولی شم په پاڼو (اعلامیو) کې غلط حقایق ولیکم.
- ✓ کولی شم خپل نظرونه په عامه لیکونو کې څرگند کړم.
- د نازي سمبولونو اغوستلو اجازه.
- تر هغه وخته پورې زه خپل نظر ویلایشم چې د حکومت خلاف نه وي.

Frage# 15 von 300

**Was verbietet das deutsche Grundgesetz?**

- Militärdienst
- ✓ Zwangsarbeit
- freie Berufswahl
- Arbeit im Ausland

له ۳۰۰ پوښتنه ۱۵ څخه

**د آلمان اساسي قانون څه منع کوي؟**

- پوځي خدمت
- ✓ جبري کار
- د مسلک او کار په ټاکلو کې خپلواکي
- د آلمان نه بهر کار کول

Frage# 16 von 300

**Wann ist die Meinungsfreiheit in Deutschland eingeschränkt?**

- ✓ Bei der öffentlichen verbreitung falscher behauptungen über einzelne personen
- Bei meinungsäußerungen über die bundesregierung
- Bei diskussionen über religionen
- Bei kritik am staat

له ۳۰۰ پوښتنه ۱۶ څخه

**په آلمان کې د بیان ازادي کله محدوده ده؟**

- ✓ د اشخاصو په اړه د غلطو ادعاگانو په عامه خپرولو کې
- کله چې د فدرالي حکومت په اړه نظر څرگند کړئ
- د مذهبونو په اړه بحثونه
- کله چې پر دولت نیوکه کوي

Frage# 17 von 300

**Die deutschen Gesetze verbieten ...**

- Meinungsfreiheit der Einwohner und Einwohnerinnen.
- Petitionen der Bürger und Bürgerinnen.
- Versammlungsfreiheit der Einwohner und Einwohnerinnen.
- ✓ Ungleichbehandlung der Bürger und Bürgerinnen durch den Staat.

له ۳۰۰ پوښتنه ۱۷ څخه

**د آلمان قوانین څه منع کوي؟**

- د اوسیدونکو د بیان ازادي.
- د اتباعو غوښتنې.
- د اوسیدونکو د لاریونونو آزادي.
- ✓ د دولت له خوا له اتباعو سره غیر مساوي چلند.

Frage# 18 von 300

**Welches Grundrecht ist in Artikel 1 des Grundgesetzes der Bundesrepublik Deutschland garantiert?**

- ✓ Die unantastbarkeit der menschenwürde
- Das recht auf leben
- Religionsfreiheit
- Meinungsfreiheit

له ۳۰۰ پوښتنه ۱۸ څخه

**کوم اساسي حق د آلمان د فدرالي جمهوریت د اساسي قانون په لومړۍ ماده کې تضمین شوی دی؟**

- ✓ د انساني کرامت نه سرغړونه
- د ژوند کولو حق
- د مذهب ازادي
- د بیان ازادي

Frage# 19 von 300

**Was versteht man unter dem Recht der „Freizügigkeit“ in Deutschland?**

- ✓ Man darf sich seinen Wohnort selbst aussuchen.
- Man kann seinen Beruf wechseln.
- Man darf sich für eine andere Religion entscheiden.
- Man darf sich in der Öffentlichkeit nur leicht bekleidet bewegen.

له ۳۰۰ پوښتنه ۱۹ څخه

**په آلمان کې « د ژوند کولو ځای غوره کولو حق » څه معنی لري؟**

- ✓ تاسو کولی شئ خپل د اوسیدو ځای، په خپله وټاکئ.
- تاسو کولی شئ خپل کار بدل کړئ.
- تاسو کولی شئ یو بل مذهب غوره کړئ.
- تاسو کولی شئ یوازې د سپکو جامو سره په عامه توگه بهر لاړ شئ.



Der afghanische Botschafter in Berlin Mohammad Aziz Khan, der in Deutschland ermordet wurde.



Muhammad Nadarshah, der die diplomatischen Beziehungen zwischen Deutschland und Afghanistan wieder in Gang gebracht hat, und zwar auf eine gute Art und Weise.

Mit der Einsetzung der Übergangsregierung traten die Beziehungen Afghanistans zu Deutschland in eine neue Phase.

Deutschland stellte 190 Millionen Euro pro Jahr für die Ausbildung der afghanischen Sicherheitskräfte zur Verfügung, und dieses Land stellte 350 Millionen Euro pro Jahr für den Wiederaufbau Afghanistans bereit.

In den letzten 20 Jahren kamen rund 100.000 militärische Deutsche als Teil der internationalen Streitkräfte und andere nicht-militärische Deutsche ins Land, um mit Afghanistan im Bereich des Wiederaufbaus zusammenzuarbeiten.

Deutschland half auch bei der Fertigstellung von Straßenbau-, Elektrizitätsdamm- und Trinkwasserprojekten im Norden des Landes.

Deutsche Kulturpolitik im Ausland:

Der frühere deutsche Ministerpräsident Willy Brandt [1969-1974] bezeichnete die deutsche Auslandskulturpolitik als dritte Säule der Außenpolitik des Landes. Daraufhin bewilligte Deutschland ein großes Budget für diesen Bereich und gründete eine Reihe von Institutionen und Organisationen zur Umsetzung dieser Politik.

Deutschland gibt nur 6,15 % seines Haushalts für Asien für Kultur und Bildung aus.

In Deutschland studieren etwa 245.000 ausländische Studenten an den akademischen Zentren und Universitäten des Landes.

Deutschland unterhält 140 Schulen und Bildungseinrichtungen in 71 Ländern.

Nach den jüngsten Veränderungen in Afghanistan wurden die diplomatischen Beziehungen zwischen den Regierungen der beiden Länder abgebrochen, aber Deutschland setzte seine Zusammenarbeit im Bereich der Wohltätigkeit fort.

Als König Amanullah Khan von Afghanistan am 22. Februar vor 95 Jahren am Berlin Lehrter Bahnhof aus dem Zug stieg, war er der erste Staatsgast, den die Weimarer Republik empfing. Der entwicklungsfreudige König, Schah Amanullah Khan, besuchte während seines siebentägigen Berlin-Besuchs unter anderem die Siemens-Werke, die AEG in Oberschenweid, das neu errichtete Kraftwerk Klingenberg und mor. Er inspizierte eine Parade von 40 Flugzeugen auf dem Tempelhofer Feld, soll die Avus mit einer Geschwindigkeit von 100 km/h überflogen haben und fuhr selbst mit der neuen U-Bahn.



anschließend nach Indien zu entsenden, was jedoch nicht umgesetzt wurde.

Mit der Gründung der Bundesrepublik Deutschland wurde ein wichtiges Abkommen mit Afghanistan unterzeichnet, nämlich mit der Firma Siemens-Schweckart. Gemäß diesem Abkommen wurden die Arbeiten am halbfertigen Sarubi-Staudamm-Projekt wieder aufgenommen. Im Jahr 1950 gewährte Deutschland Afghanistan ein Handelsdarlehen, und ein Jahr später, 1951, wurde in München eine Handelsvertretung Afghanistans eröffnet, und ein Jahr später wurde zwischen den beiden Ländern ein Abkommen über den Austausch von Handelswaren unterzeichnet. Afghanistan bestellte die technische Ausrüstung vieler seiner Fabriken in Deutschland.

Die diplomatischen Beziehungen zwischen den beiden Ländern wurden 1954 wieder aufgenommen, woraufhin zahlreiche Verträge unterzeichnet wurden.

Projekte, an denen Deutschland beteiligt war:

Eine Seifenfabrik, eine Pflanzenölproduktionsanlage im Norden, ein Stromerzeugungsprojekt, ein Telefonsystemprojekt in Kabul, und außerdem wurde viel Hilfe bei der Ausbildung von Personal geleistet.

Während des Fünfjahresplans für Afghanistan (1962-1967) erhöhte Deutschland seine finanzielle Unterstützung für Afghanistan. Davoud Khan besuchte Deutschland 1961 und wurde von den Deutschen nicht willkommen geheißen, weil er auf Neutralität bestand. Mit der Ernennung von Dr. Yusuf zum Ministerpräsidenten, der als Vertreter der afghanischen Bourgeoisie bezeichnet wurde und eine Politik der Annäherung an den Westen verfolgte, stieg das Interesse Deutschlands an der Unterstützung Afghanistans. Damals gewährte er Afghanistan ein Darlehen in Höhe von 260 Millionen Mark.

Nach der Revolution in Afghanistan sanken die Beziehungen zwischen Afghanistan und den westlichen Ländern auf ein niedriges Niveau. 1979 brach Deutschland seine diplomatischen Beziehungen zu Afghanistan unter dem Vorwand der Ermordung zweier deutscher Familien durch die afghanischen Mudschaheddin ab.

Mit dem Einmarsch der ehemaligen sowjetischen Streitkräfte in Afghanistan forderte Deutschland seine Bürger auf, Afghanistan zu verlassen, und ließ nur einige Mitarbeiter seiner Botschaft in Afghanistan zurück. Als Gegenleistung für seine Wirtschaftshilfe machte Deutschland die Bedingung, die Beziehungen Afghanistans zu den sozialistischen Ländern abzubrechen. Die Beziehungen zwischen den beiden Ländern kühlten sich ab, und die dreißigjährigen Beziehungen wurden auf diese Weise bis zum Ende der Regierung von Dr. Najibullah im Jahr 1992 unterbrochen. Mit der Ankunft der Mudschaheddin änderte sich nichts.





ein Vertrag über den Bau einer Eisenbahn und die Entsendung deutscher Experten nach Afghanistan unterzeichnet.

Danach wurde 1926 ein Freundschaftsvertrag zwischen den beiden Ländern unterzeichnet, und die wirtschaftlichen Beziehungen zwischen den beiden Ländern wurden durch den Besuch von Ghazi Amanullah Khan im Jahr 1928 gestärkt. Afghanistan hat mit keinem anderen Land so weitreichende Wirtschafts- und Handelsabkommen geschlossen.

Deutschland half der Regierung von Amanullah Khan bei der Vorbereitung und dem Bau der Karte des Dar al-Aman Palastes. Die Straße zwischen Dar al-Aman und der Harten-Brücke wurde zur gleichen Zeit mit deutscher Hilfe gebaut.

Während der Zeit von Muhammad Nadir Khan wurde diese Beziehung wiederbelebt

Als Mohammad Nader Khan vom Verteidigungsministerium zurücktrat und Botschafter in Frankreich wurde, bereiste er nach seinem Rücktritt von der Botschaft europäische Länder. Als er König wurde, gründete er die Universität Kabul, damit die afghanische Jugend in ihrem Heimatland ausgebildet werden konnte.

Mohammad Nadir Shah ernannte seinen Bruder Sardar Mohammad Aziz Khan zum Botschafter in Berlin, um die Beziehungen zwischen Afghanistan und Deutschland zu stärken und dieses Land davon zu überzeugen, Stipendien an afghanische Studenten zu vergeben.

Muhammad Nadir Khan ermutigte und bewunderte die Schüler des Najat (Amani) Gymnasiums in Kabul, die in deutscher Sprache lernten und von Deutschland gefördert wurden, und stellte Muhammad Aziz Khan vor, in Deutschland eine höhere Ausbildung zu absolvieren.

Abdul Khaliq, der Mohammad Nadir Shah ermordet hatte, gehörte ebenfalls zu den Studenten, die in Deutschland studieren wollten. Doch Mohammad Aziz Khan wurde in Deutschland und Mohammad Nader Khan in Kabul ermordet.

In Anbetracht der geopolitischen Bedeutung Afghanistans war Deutschland stets an guten Beziehungen zu Afghanistan interessiert. Hitler vergab 1933 eine Reihe von Krediten an Afghanistan. Im Jahr 1935 wurde Afghanistan ein weiteres Darlehen in Höhe von 6,5 Millionen Mark gewährt, und ein weiteres Darlehen in Höhe von 15 Millionen Mark wurde Afghanistan unter dem Namen «Geheimprotokoll Militärkredit» gewährt. 1939 legte Deutschland einen Plan für den Wiederaufbau des afghanischen Verwaltungsapparats vor und begann daraufhin, deutsche Experten und Berater für die afghanischen Institutionen zu rekrutieren. Er spielte eine gute Rolle beim Aufbau der Polizei und anderer Institutionen.

Im Jahr 1941 schlug das Oberkommando des deutschen Heeres vor, Truppen nach Afghanistan und



# Ein kritischer Blick auf die Beziehungen zwischen Afghanistan und Deutschland

**Geschrieben von: Alam Gul Sehar**

Die Beziehungen zwischen Afghanistan und Deutschland begannen während der Herrschaft von Amir Habibullah Khan, aber die diplomatischen Beziehungen zwischen den beiden Ländern wurden erst 1921 aufgenommen. Der erste Vertrag zwischen den beiden Ländern wurde im kulturellen Bereich unterzeichnet. 1924 wurde in Kabul eine deutsche Schule mit 120 Schülern gegründet, und es wurde

# Liebe Leserinnen und Leser,

willkommen zur zweiten Ausgabe von «HAZOB: Ein paschtu-deutsches Magazin für afghanische Zuwanderer in Deutschland». Wir freuen uns, dass wir unsere Mission fortsetzen können, afghanischen Migranten wertvolle Ressourcen, Einblicke und Verbindungen für ihr Leben in Deutschland zu bieten.

In dieser Ausgabe tauchen wir tiefer in die kulturelle Vielfalt ein, die sowohl Afghanistan als auch Deutschland ausmacht. Unser Ziel ist es, das Verständnis zu fördern, die Integration voranzutreiben und die Leistungen der afghanischen Zuwanderer in ihrer neuen Heimat hervorzuheben. Durch die Kraft des Geschichtenerzählens und gemeinsamer Erfahrungen versuchen wir, Brücken der Einheit und Zugehörigkeit zu bauen.

In unseren Beiträgen erkunden unsere Autoren die kulturellen und sozialen Herausforderungen für Afghanen in Deutschland und beleuchten die Nuancen, die das tägliche Miteinander prägen. Von afghanisch-deutschen Beziehungen und der Geschichte bis hin zu Geschichten über den Kampf um Integration und ein neues Leben - wir haben versucht, die Ideen und Sorgen der Diaspora in die Diskussion einzubringen.

Sich im Alltag in einem neuen Land zurechtzufinden, kann eine Herausforderung sein, aber wir sind hier, um die Afghanen auf diesem Weg zu unterstützen. In dieser Ausgabe bieten wir auch praktische Ratschläge und Ressourcen für wichtige Aspekte des Lebens in Deutschland, wie zum Beispiel Fragen zur Staatsbürgerschaft.

Wir wissen, dass afghanische Migranten in Deutschland eine vielfältige und lebendige Gemeinschaft bilden, in der verschiedene Generationen nebeneinander leben. Daher haben wir Inhalte zusammengestellt, die sowohl junge als auch ältere Mitglieder der Gemeinschaft ansprechen. Indem wir die Kluft zwischen den Generationen überbrücken, versuchen wir, ein Gefühl der Einheit, gemeinsame Werte und gegenseitiges Verständnis zu schaffen.

Außerdem betonen wir weiterhin die Bedeutung des bürgerschaftlichen Engagements. Ihre Stimme zählt, und Ihre Ansichten sind wertvoll. Mit dem Magazin bieten wir afghanischen Zuwanderern eine Plattform, um ihre Meinung zu äußern, ihre Erfahrungen zu teilen und die deutsche Gesellschaft aktiv mitzugestalten. Wir glauben, dass wir durch die Förderung des Dialogs und der Partizipation ein größeres Verständnis und Empathie fördern können.

Wir bedanken uns herzlich bei unseren Lesern, Mitwirkenden und der Community für ihre kontinuierliche Unterstützung. «HAZOB: Ein paschtu-deutsches Magazin für afghanische Einwanderer in Deutschland» ist ein gemeinsames Projekt, das von der Vision einer integrativeren und besser vernetzten Gesellschaft getragen wird. Wir laden Sie ein, uns auf dieser Reise zu begleiten, um die kulturelle Vielfalt zu fördern, persönliches Wachstum zu inspirieren und dauerhafte Brücken zwischen den Gemeinschaften zu bauen.

Mit freundlichen Grüßen

HAZOB

zeitschrift

# HAZOB

Sozial- und Kulturmagazin

## Impressum:

**Herausgeber:** Hazob (Gelenkstift der Veränderung und Verbindung)
**Chefredakteur:** Mahmood Saeed
**stellvertretender Redakteur:**Mojeeburahman Ehsas
**Redakteur:** Qarib Rahman Shahab
**Design und Gestaltung:** Hewadmal Graphics
**Fotograf:** Mohammad Imran
**Vertreten durch:** Wazhma Ayoubi, Mohammad Imran Storay, Wazhma Tokhi, Mahmood Saeed, Mojeeburahman Ehsas, Qarib Rahman Shahab, Khanagha Noori,
Sahar Gul Saher, Abdulwasay Hewadmal, Nasir Ahmad Andial
**Redaktion:** Alam Gul Sahar, Naima Ghani, Asien Mehrabi, Ehsanullah Darmal, Nazir Ahmad Sahar, Sahar Gul Sehar, Abdul Ghani Mustagni

**E-Mail:**
info@hazob.de
**Internet:**
www.hazob.de
**Address:**
Hazob
Berlin, Deutschland

SCAN ME




**Kultur und Traditionen sind ein untrennbarer Teil der menschlichen Natur und bleiben immer die Freunde des Menschen. Viele Afghanen in Deutschland haben sich weit von ihren ursprünglichen Traditionen und besonderen Bräuchen entfernt und leiden unter dieser Kluft. Aus diesem Grund ist HAZOB entschlossen, diese Lücke ein Stück weit zu schließen und den in Deutschland lebenden Afghanen die Möglichkeit zu geben, ihre Traditionen zu schützen und zu pflegen und sie der Welt als ihre ursprünglichen Werte und Ideen zu präsentieren.**